
سرلاري
۲۵

# پوهاند غضنفر

## له شپنۍ تر ډاکترۍ



امیرجان وحید احمدزی

Scanned by CamScanner

# فهرست


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | یو بریالی انسان | ٦ |
| ۲ | ډاکټر غضنفر څنګه بریالیتوب ته ورسېد ؟ | ۸ |
| ۳ | کمکی شپونکی | ۱۱ |
| ۴ | پوښتونکی او پلټونکی ذهن | ۱۳ |
| ۵ | زحمت او شهرت | ۱۵ |
| ٦ | د ښوونځي هیله | ۱۷ |
| ۷ | د ښوونځي پیل | ۱۹ |
| ۸ | د ښوونځي پرېښودل | ۲۲ |
| ۹ | استقلال لېسه کې د شمولیت هیله | ۲۵ |
| ۹ | نرسنګ ښوونځی | ۲٦ |
| ۱۰ | د ژبو زده کړه | ۲۹ |
| ۱۱ | عملي کار | ۳۳ |
| ۱۲ | لومړنی دنده | ۳۷ |
| ۱۳ | د طبابت مینه | ۳۹ |
| ۱۴ | شپې دارالمعلمین | ٤۱ |
| ۱۵ | د سوبې ازموینه | ٤۳ |
| ۱٦ | حبیبیه لېسه | ٤٦ |
| ۱۷ | پېژندنه | ٥۲ |
| ۱۸ | زنداني کېدل | ٥٤ |




Scanned by CamScanner

| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | د یوې فرانسوی د ژوند ژغورل | ٥٦ |
| ۲۰ | بیروت امریکایي پوهنتون | ٥٨ |
| ۲۱ | د ډاکټر غضنفر شخصیت | ٦٢ |
| ۲۳ | وطن پالنه | ٦٦ |
| ۲۴ | د ایډز د تشخیص لابراتوار | ٦٩ |
| ۲۵ | د سیروم جوړولو فابریکه | ٧١ |
| ۲۶ | بېلابېلې دندې | ٧٣ |
| ۲۷ | د پوهاند غضنفر د خدمتونو قدرداني | ٨١ |



Scanned by CamScanner

# یو بریالی انسان

انسانان چې څومره د رنګونو، خویونو او ځانګړنو له پلوه متفاوت دي نو همدومره یې د ژوند ډول، ستونزې او کړاونه هم سره توپیر لري، مګر په دوی کې هغه تر نورو بریالي دي چې خپلو لویو موخو او ارمانونو ته د رسېدو لپاره له ناخوالو سره مبارزه او هلې ځلې کوي.

ښاغلی سید الف شاه غضنفر هغه بریالی انسان وو چې د خپلې پیاوړې ارادې، ټینګ عزم، پوهې او مسلسلو کوښښونو له امله یې خپلو موخو، هیلو او ارمانونو ته د رسېدو لپاره د ستونزو او ناخوالو هیڅ پروا و نه لرله.

د لوګر په کلنګار کې خپلې بې وزله کورنۍ نوموړی شپنې ته سوق کړ، خو ده د ښوونځي شوق وکړ. د خپل استعداد او زحمتونو له برکته یې د ښوونځي دولس کاله په اته کاله کې تمام کړل. د لومړي ټولګي په ۱۹ ورځ د ښوونځي مسوولینو د هغه وړتیا ته په پام نوموړی دویم صنف ته ولېږه، څه کم دوه میاشتې وروسته په کلنۍ ازموینه کې دریم ټولګي ته دویم نومره کامیاب شو او بیا تر پایه اول نومره وو.

په کابل کې د اووم او اتم ټولګي له لوستلو او یو کال عملي کار وروسته یې شپې دارالمعلمین ولوست او چې د سویې ازموینه یې ورکړه، نو د حبیبیه لېسې دولسم ټولګي ته بریالی او کال وروسته په دویمه درجه ورڅخه فارغ شو.

بیروت امریکایي پوهنتون کې د ۵۰ هېوادونو د زرګونو ممتازو زده کوونکو په منځ کې حبیبیه لېسه اوله درجه شوه او د دغې اول نومرګۍ له برکته د حبیبیه لېسې زده کوونکي یاد پوهنتون ته د داخلېدو له ازموینې معاف شول، ځکه په همغه کال پوهنتون پرېکړه وکړه، چې له دې وروسته د افغانستان حبیبیه لېسې زده کوونکي له ازموینې پرته بیروت امریکایي پوهنتون ته شاملېدلی شي.

ښاغلي غضنفر د خپلو علمي کارونو او څېړنو له امله چې کومې نغدي ډالۍ ترلاسه کړې، نو هغه یې په افغانستان کې د بیوشیمي ډیپارټمنټ، د سیروم جوړولو کارخانې او د علي اباد روغتون په عملیات خونه کې د هوا د تصفیې دستګاه په جوړولو او نورو ګټورو کارونو ولګولې.

نوموړي هېواد ته له راستنېدو وروسته د ځوانو طبیبانو د روزنې ترڅنګ د علمي او عملي طبابت په برخو کې ډېر ګټور کارونه او خدمتونه وکړل.

د استاد سیدالف شاه غضنفر له شخصیت، ژوند، کارنامو او خدمتونو څخه خبرېدل د ځوانانو لپاره په دې ګټور دي چې هغوی ته د خپلو هیلو د پاللو لپاره روحیه، انګېزه او انرژي ورکوي او عملاً دا ورښیي چې له ستونزو، خنډونو او ناخوالو سره څنګه مبارزه وکړي او څنګه په دې وتوانېږي چې خپلو موخو ته ځانونه ورسوي.


د ډاکټر صاحب ظاهر ایوبي دې کور ودان وي چې د پوهاند صاحب غضنفر ویډیویي مرکه یې راکړه او د دې کتاب په لیکلو مې ورڅخه ډېره ګټه واخیستله.



Scanned by CamScanner

# ډاکتر غضنفر څنګه بریالیتوب ته ورسېد؟

بې وزلي، ناچاري او ګڼې نورې ناخوالې تقریباً د هر افغان د ژوند یوه برخه ده او دغو ناخوالو د ډېرو ځوانانو د ژوند رنګونه او مخونه پیکه کړي دي، مګر هغوی چې د ژوند د ستونزو او ناخوالو پروا نه ده کړې او پر وړاندې یې خپل همت له لاسه نه دی ورکړی او په مېړانه یې خپلې مبارزې ته ادامه ورکړې، هغوی بیا نه یوازې د ځان بلکې د نورو لپاره هم غوره مثالونه ګرځېدلي دي.



*پوهاند سید الف شاه غضنفر*



Scanned by CamScanner

بې وزلي، ناچاري او ګڼو نورو ستونزو او ناخوالو که د ډېرو افغان زلميانو د ژوند هيلې مړاوې او هغوی خپلو موخو او ارمانونو ته له رسېدو څخه پاتې کړي دي، نو ډېرو استراحت طلبو ته بې خپلو هيلو او موخو ته د نه رسېدو په برخه کې د هغوی د لټۍ او تنبلۍ د پټولو او له ملامتيا څخه د خپلو اوږو د سپکولو لپاره اسانه پلمې هم برابرې کړې دي.

مګر ځينو بيا خپلو هيلو او موخو ته د رسېدو په لاره کې د بې وزلۍ او ناچارۍ په ګډون د ډېرو نورو ستونزو او ناخوالو هيڅ پروا نه ده لرلې. په خپل ټول قوت او ټينګه اراده يې له ستونزو او ناخوالو سره مبارزه او خپلو موخو ته د رسېدو پرلپسې کوښښونه کړي دي او بالاخره په دې توانېدلي چې هم خپلو موخو او هم د برياليتوب هسکو پوړيو ته په اسانه ځانونه ورسوي.

پوهاند ډاکټر سيد الف شاه غضنفر يو له هغو برياليو، مبارزو، مستعدو او زحمتکشو انسانانو څخه دی، ځکه نو موړی له يوې بې وزله کورنۍ او محروم کليوالي چاپېريال څخه په دې وتوانېده چې په همغه تنګې زلميتابه کې خپلو موخو، ارمانونو او هيلو ته ننه وباسي او يوازې د خپلې پوهې، هڅو، زحمتونو او خدای ورکړې استعداد پر مټ د بريا مزلونه او منزلونه ځانته رالنډ کړي.

د نباغلي پوهاند ډاکټر سيد الف شاه غضنفر په څېر د لويو انسانانو له ستونزو، تجربو، برياو او لاسته راوړنو د ډک ژوند داستان اوسنيو ځوانانو ته د پرلپسې کوښښونو او زحمتونو د ګاللو روحيه او خپلو هيلو ته د رسېدلو لپاره انګېزه او انرژي ورکوي.



Scanned by CamScanner

د ښاغلي پوهاند سید الف شاه له ژوند، شخصیت، پوهې او کوښښونو سره د دوی بلدتیا عملاً دا ورښیي چې څنګه په ستونزو او ناخوالو برلاسي شي او د خپل ژوند لوری د بریا او نېکمرغۍ په لور ورسیخ کړي. کله چې ځوانان دا ولولي چې یو کلنګاری او لوګری ځوان څنګه په دې وتوانېده چې د بې وزلي او د پلار د مخالفت باوجود یې له شپني څخه د کلي ښوونځي ته لاره وموندله او بیا یې خپل دغه حیاتي او علمي مزل ان تر لبنان او امریکا پورې وغځاوه. نوموړی د پرلپسې زحمتونو او کوښښونو پر مټ دهېواد او سیمې په کچه د یو نومیالي ډاکټر، پوهاند او مستعد شخصیت په توګه وځلېده.

ډاکتر غضنفر په خپله پوهه، وړتیا او زحمتونو دا ثابته کړه چې انسانان بریالي نه زېږي، بلکې په خپلو کوښښونو او زحمتونو بریالیتوب ته رسېږي، نو ځوانانو ته ښایي چې د نوموړي د ژوند او کارنامو په اړه لا ډېر ځان پوه کړي او له هغه څخه په الهام اخیستو دا زده کړي چې د خپل ژوند ستونزې او ناخوالې څنګه شاته پرېږدي.

پوهاند سید الف شاه غضنفر د خپلې پېړۍ لوی او خدمتګار انسان وو. هغه به د خپلو غوره خدمتونو، علمي او څېړنیزو فعالیتونو او د قدر وړ کوښښونو او زحمتونو له امله تل یاد او ښاد وي.



Scanned by CamScanner

# کمکی شپونکی

نهه کلن سید الف شاه چې د شپني پرځای یې له ښوونځي سره ډېره مینه وه، نو هر سهار به یې زړه نا زړه خپلې مېږې له کوره څرځای ته بېولې، ورځ به یې په غرو، رغو، دښتو او ورشوګانو کې تېره کړه، غرمه یا ماښام لمر لوېده مهال به یې خپلې مېږې له ګیډلو او شمېرلو وروسته بېرته کاله ته راوستلې.



پوهاند غضنفر

نوموړې د نورو ډېرو ماشومانو برعکس لا په کمکینې خپل ووړ زړه ښوونځي پورې تړلی وو، خو د کورنۍ د بې وزلۍ او له ښوونځي سره د پلار د بې علاقګۍ له امله یې ښوونځي ته د تلو مینه او هیله تل په زړه کې پالله له ځانه سره یې ښوونځي ته د تلو لارې او ګودرې لټولې، خو د خپلې کورنۍ او په ځانګړې ډول د پلار مخالفت یې په خپل بیا بیا ټینګار او زاریو نرم او بالاخره یې قانع کړ.

دغه ماشوم شپونکي د مني په یوه لمرینه ورځ خپل کلي سیدانو کلا ته ور څېرمه د سین تر غاړې په مرنډه باندې پېښې غځولې وې. مېږې یې په ورشو کې څړلې. د بغل له جیب څخه به یې موټی را ډک کړ، بیا به یې یوه یوه سنځله خولې او د هغې زړی به یې روانو اوبو ته وغورځاوه. له غورځولو سره سم به د سنځلې زړی د رڼو او روانو اوبو تل ته ورسېد.


د اوبو په تل کې د سنځلې د زړي ډوبېدو د ښاغلي سید الف شاه غضنفر ووړ، خو پوښتونکی او پلټونکی ذهن په دې اړه په پوښتنو او هغو ته په ځواب موندلو بوخت وساته.



Scanned by CamScanner

# پوښتونکی او پلټونکی ذهن

سید الف شاه له کوچنیوالي تر ډېره له خپل پوښتونکي او پلټونکي ذهن سره بوخت وو ، له ځانه یې عجیبې او غریبې پوښتنې کولې او بیا به یې له دقیق غور او فکر وروسته خپلې پوښتنې په خپله ځوابولې.



*ډاکټر سید الف شاه غضنفر*

د روانو اوبو په سر د لرګیو نندارو ورته په زړه پورې او پوښتونکې وه. د سنځلو زړو او د لرګیو ټوټو ته په کتو دا پوښتنه په ذهن کې ور وګرځېده ، چې غټې لرګي د تکړه لامبوزن په څېر د اوبو په سر روان وي، خو د سنځلې

کوچنی زړی چې د لرګي له جنسه دی په یوه شیبه کې د اوبو تل ته کوزېږي، مګر ولې؟

د یو نهه کلن ماشوم په ذهن کې د دغسې پوښتنو ورګرځېدل او بیا په خپله هغو پوښتنو ته د مناسبو ځوابونو موندل د هغه د عالي استعداد او پلټونکي ذهن ښودنه کوي. د دغه کوچني شپونکي له مهمو کمالونو څخه یو دا وو چې خپلو پوښتنو ته به یې په خپله ځوابونه لټول، مګر هر ساده ځواب په اسانه نشو قانع کولی.

دغه کلنګاري ماشوم د مناسب ځواب په موندلو څو ورځې مسلسل فکر کاوه، خو د هیڅ پوښتنې لپاره بې ځوابه نه پاتې کېده. د سنځلو په زړو له زیات فکر وروسته بالاخره دې پایلې ته ورسېد هر شی چې له اوبو درووند وي،نو اوبه یې ډوبوي او د سنځلې د زړي په څېر د اوبو شګلن تل ته کوزېږي، خو که یو شی څومره غټ هم وي خو چې له اوبو درووند نه وي، نو بیا یې اوبه نه ډوبوي او د لرګیو د ټوټو په څېر د اوبو په سر روان وي.

د ښاغلي ډاکټرظاهر ایوبي په وینا ، سید الف شاه په لس کلنۍ کې د اوبو د ترکیبي اجزاو په اړه فکر وکړ او په خپل ذهن کې یې خپلې دغې پوښتنې ته داسې ځواب وموند چې که اوبه ماتې او تجزیه شي، نو بالاخره په وړو او نه تجزیه کېدونکو اجزاو بدلېږي.

کلونه وروسته نوموړی له ښوونکي اوري چې د اوبو مالیکول کوچنۍ اجزا هایدروجن او اکسیجن دي، مګر سید الف شاه په ۱۰ کلنۍ همدغه فکر کاوه چې اوبه له وړو اجزاو څخه جوړې دي او د ښوونکي په توضیحاتو کې یې د دغو اجزاو نومونه(هایدروجن او اکسیجن) زده کړل.



Scanned by CamScanner

# زحمت او شهرت

سید الف شاه په کور، کلي او ښوونځي کې د ذهین او تکړه زده کوونکي په توګه شهرت وموند. د نوموړي د دغې وړتیا ځلا او ښکلا د هغه له کلي او ښوونځي پورې محدوده پاتې نشوه، ځکه د هېواد په کچه لا څه چې ان تر لیرې وطنونو پورې یې د پوهې شهرت خپور شو.





Scanned by CamScanner

حکومت چې په کوم کال سید الف شاه غضنفر له خپلو دوه نورو ټولګیوالو سره لبنان ته په بیروت امریکایي پوهنتون کې د طب په برخه کې د لوړو زده کړو لپاره واستاوه، نو د حبیبیه لیسې امریکایي مدیر لارسن هغوی ته ویلي وو چې د حبیبیه لیسې انتخاب شوي زده کوونکي تکړه دي، د شمولیت ازموینه مه ورڅخه اخلئ.


په همغه کال د ښاغلي سید الف شاه غضنفر، رفیق وزیري او کبیر نورزي د وړتیا او هلو ځلو له برکته د نړۍ د ۵۰ بېلابېلو هېوادونو د ۲۰۰ زده کوونکو د نمرو د اوسط له مخې افغانستان او حبیبیه لیسه لومړۍ درجه شول.

سید الف شاه غضنفر د خپل خدایي استعداد او مسلسلو زحمتونو او کوښښونو پر مټ د هېواد او نړۍ په کچه د یو هڅاند او نوښتګر دانشمند او عالم او د یو ښاغلي او منلي شخصیت په توګه وځلېده او د همدغې وړتیا او ځلا له برکته یې شهرت تر لیرې وطنونو پورې خپور شو.

Scanned by CamScanner

# د ښوونځي هیله

اکثره ماشومان په لومړیو کې په خپله خوښه نه، بلکې د کورنیو په هڅونه، دلاسا ینه، ټینګار او حتی فشار ښوونځیو ته ځي، ځکه د کور له بلد چاپیریال څخه ماشومان په اسانه د ښوونځي نابلد چاپیریال ته ورتلو ته زړه نه ښه کوي.



عموماً ماشومان په ښوونځي کې ځان خوندي نه ګڼي، د اوبو او خوړو اند ېښنه ورسره وي. د ښوونکو او زده کوونکو له توند چلند، ځورولو او وهلو هم وېرېږي او همدارنګه د ښوونځي او ټولګي د اصولو او مقرراتو



Scanned by CamScanner

منلو او پرځای کولو ته هم زړه نازړه وي.

لنړه دا چې د دې او ورته نورو ستونزو او اندېښنو له امله ماشومان په اسانه د ښوونځي ورتګ ته زړه نه ښه کوي او په کليوالو ماشومانو کې دغه وېره او ستونزه لا ډېره وي.

مګر ښوونځي ته د تلو په برخه کې د سيد الف شاه ستونزې له ډېرو نورو افغان ماشومانو څخه متفاوتې وې. نوموړي د بې وزلۍ او له زده کړې سره د نوموړي د پلار د بې علاقګۍ له امله په اوه کلنۍ کې د ښوونځي پرځای شپني پيل کړه.


کلونه وروسته د نوموړي پوښتونکی او پلټونکی ذهن او ښوونځي ته د تلو لپاره د نوموړي بيا بيا غوښتنه او مکرر ټينګار هغه له شپني څخه راوګرځاوه، مګر لا يې هم ښوونځي ته د تلو چانس و نه موند، ځکه پلار يې د ښوونځي پرځای جومات ته واستاوه.

د الفبا له زده کړې وروسته يې لومړنۍ ديني زده کړې په جومات کې وکړې. د ديني درسونو د ښه او ژر زده کولو له امله ملا امام ورته خوشاله وو. د پنج کتاب ډېر شعرونه يې هم له ويلو وروسته په يادو پاتې کېدل.

په جومات کې د ديني درس ويلو پرمهال ښاغلي سيد الف شاه خپلې د ښوونځي هيلې ته ځان نږدې احساساوه او ټينګ باور يې درلود چې ډېر ژر به له جومات څخه ښوونځي ته هم لاره وکړي.

# د ښوونځي پیل

یوازې د سید الف شاه کلیوال او جوماتوال د هغه له ذکاوت او استعداد نه وو خبر، بلکې د کلنګار لومړني ښوونځي مسوولینو هم د نومړي د ورځتیا ستاینې واورېدې او د همدغو ستاینو له امله د ښوونځي مسوولینو د هغه د موندلو پلټنه پیل کړه او په پوښتنه پوښتنه یې سید الف شاه له خپلو مېږو سره یو ځای وموند.



د ښوونځي ورغلي استازي نومړی ښوونځي ته ورتلو ته وهڅاوه. هغه د ښوونځي له اورېدو سره له خوښۍ وغوړېده، خو له ښوونځي سره د خپل



Scanned by CamScanner

پلار د مخالفت ستونزه یې له دوی سره شریکه کړه.
ښاغلي سید الف شاه غضنفر په زړبودۍ کې د خپل ماشومتوب او ښوونځي ته د تلو په اړه وویل، وخت په وخت له ښوونځي څخه د سرمعلم په لار ښوونه چپړاسي راتلو چې ښوونځي ته لاړ شم. د ښوونځي ملازم چې زموږ خپلوان وو چې کله به راغی چې ما ښوونځي ته بوځي، نو پلار به مې غوايي ورکړل ورته ويل به يې دا بوځه ځمکه دې ورباندې وړيا قولبه کړه، له ښوونځي تېرشه.
څو کاله مسلسل به چې د ښوونځي ملازم ورپسې ورغی، نو پلار به یې په یوه او بله تېرا بسته، ښاغلی سید الف شاه وایي، بلاخره د ۱۳۱۹ لمریز کال په جوزا کې د کولنګار حاکم خبر شو، هغه پولیس را ولېږل. پولیس چې راغلل پلار مې راته ویل، مېږې ماته پرېږده لاړ شه ښوونځي ته دغه مهال ۱۴ کلن وم.
ښوونځي درې لومړي صنفونه لرل، زه يې اول ج کې داخل کړم. په دې ټولګي کې ډېر واړه ماشومان وو. په ګيلم له ونو لاندې کېناستلو. ماته ټول ماشومان معلومېدل، ځکه په هغوی کې زه تر ټولو غټ وم.
د کلنګار لومړني ښوونځي سرمعلم په ۱۹ ورځ چې د دینیات کتاب پوښتنې وکړې، ټول یې حفظ کړي وو، نو دویم ټولګي ته یې واستاوه. اته اونۍ وروسته یې چې کلنۍ ازموینه ورکړه، نو دریم صنف ته دویم نمره کامیاب شو. دریم ټولګي کې اول نمره شو او بیا ان تر شپږم ټولګي پورې اول نمره و.

نوموړی وایي: په څلورم صنف کې ښوونکي د زاویې اندازه کول را زده کړل، کورته چې لاړم نقاله مې را واخیسته مختلف مثلثونه مې رسم کړل ومې لیدل چې د داخلي زاویو مجموعه یې دوه قایمې (۱۸۰ درجې) کېدې



Scanned by CamScanner


بالاخره مې خلور ضلعي همداسې رقم رقم رسم کړې ان تر لس ضلعي پورې بیا په دې فکر کې شوم چې دا کوم قانون مراعتوي؟
بالاخره دې نتیجې ته ورسېدم چې که د اضلاعو له مجموعې دوه کم کړو او بیا یې په دوه کې ضرب کړو دوه قایمې په لاس راځي. ښوونځي ته راغلم ما ویل داسې فورمول مې کشف کړی دی څوک متوجه نشول، خو چې پنځم صنف ته لاړم دا فورمول مې کتاب کې ولید داسې خولې شوم ما ویل که خلک یې ووینې وایي به تا خو ویل دا ما کشف کړی دا خو دې له کتابه اخیستی. مګر د خدای فضل وو زما د فورمول خبره د چا په یاد نه وه. مګر خپلې خولې مې خپله حس کړې.



Scanned by CamScanner

# د ښوونځي پرېښودل

د سید الف شاه کورنۍ او پلار غوښتل چې نوموړی د ښوونځي پرځای دیني زده کړې وکړي او په راتلونکي کې دیني عالم شي، په همدې موخه یې نوموړی کال وروسته د شپږم ټولګي په نیمایي کې له ښوونځي راوګرځاوه او ډېته یې وهڅاوه چې د ښوونځي پرځای کوم بهرني هېواد ته د دیني زده کړو لپاره لاړ شي.



ښاغلی سید الف شاه غضنفر وايي، په شپږم ټولګي کې مې داسې فکر وکړ چې دنیايي علوم مې خلاص کړل، راځه په دیني علومو پسې



Scanned by CamScanner

لاړ شه. تصمیم مې ونیوه چې ښوونځي کې به یو څو ورځې غیرحاضري وکړم او چې غیرحاضر شوم، نو له اول نمرګۍ به ولوېږم، بیا څوک نه راپسې ګرځي. بیا به دیوبند ته لاړ شم، دیوبند هغه مهال ډېر مشهور وو.

بله ورځ مې د عمه زوی سیدامان الله چې سرکاتب وو کورته راغی. ویل راځه ته به ښوونځي ته لاړ شې او زه به همغسې کورته لاړ شم، ما ویل زه ښوونځي ته نه ځم. ویل رښتیا وایې که ټوکې کوې؟ ما ویل رښتیا وایم. هغه تللی وو ښوونځي ته یې ویلي وو چې ده پسې چپړاسي ولېږئ، ځکه له ښوونځي څخه یاغي شوی دی. د ورځې لس بجې چپړاسي راغی. ویل څه چې ښوونځي ته ځو، ما ورته ویل سبا درځم.

چپړاسي راته ویل نن به ځې، ځکه سرمعلم سبا کابل ته ځي او څو جدولونه د خط کشي کولو لپاره درکوي. مېږې مې پلار ته پرېښودې. کلا ته نږدې چې ورسېدم چپړاسي ویل څه کوې؟ ما ویل کتابونه راخلم. ویل کتابونو ته اړتیا نشته راځه جدولونه خط کشي کړه. ما ویل بې کتابونو بده ده چې ښوونځي ته لاړ شم.

زه په دې شرمېدم چې له چپړاسي سره څنګه یو ځای ښوونځي ته لاړ شم. لاړم کتابونه مې را واخیستل او هغه ته مې وویل یا ته مخکې شه یا زه مخکې کېږم. ویل ته مخکې شه، نو بیا زه یو سل متره مخته روان وم. مکتب ته چې ورسېدم سرمعلم چېرې روان او سخت په غوسه و، راته ویل یې چې بېرته راشم کار درسره لرم.

ټولګي ته چې لاړم، نو د ریاضي ښوونکی زموږ په صنف کې وو، په غوسه یې د غیر حاضرۍ پوښتنه رانه وکړه، بیا یې یو هلک په لښتو پسې ولېږه، یوه ګېډۍ لښتې یې راوړې او چې لاس مې ورته ونیوه، ویل نا پښې دې ونیسه، زه کېناستم او د دواړو پښو پرځای مې یوه پښه ورته



Scanned by CamScanner

ونیوله خو لښتي يې چې ووهلم ما ويل توبه مې ده، راته ويل يې پورته شه لاړم په خپل ځاى کېناستم.

پوهاند صاحب غضنفر له سباوون مجلې سره په مرکه کې وايي: زما له وهلو وروسته ښوونکي نوی درس د ټولګي په تخته د رياضي د يوې پوښتنې په ليکلو پيل کړ. د پوښتنې له ليکلو وروسته ښوونکي موږ ته مخ راواړاوه او ويل يې دا سوال څوک حلوي؟ ما له خپلو ټولګيوالو د مخه خپل لاس او غږ لوړ کړ، ما ويل زه يې حلوم. تختې ته ور پورته شوم او د ښوونکي د پوښتنې له حلولو وروسته بېرته په خپل ځاى کېناستم.

ښوونکی نږدې راغی، له ډېرې خوښۍ يې په مخ ښکل کړم او خپله منه يې هم ماته راکړه. زما ټولګيوالو ته يې مخ ور واړاوه، او وې ويل: تاسې چې ووهم، نو بيا څو ورځې بړوس او مرور ګرځئ، مګر دا ډېر تکړه هلک دی، وګورئ همدا اوس مې سخت وواهه مګر بيا يې هم له پنځلس ورځې غيرحاضرۍ وروسته وکولاى شول چې د نوي درس پوښتنه حل کړي، افرين بچيه !. له دې وروسته مې بيا هيڅ غيرحاضري ونه کړه.

له کابل څخه ورغلی پلاوی چې حربي ښوونځي ته د زده کوونکو د جذبولو په موخه د کلنګار لومړني ښوونځي ته ورغلی وو، نو هلته يې په ټولګي کې له زده کوونکو پوښتنه کړې وه چې څوک حربي ښوونځي ته ځي؟ هغو زده کوونکو چې د دغې لېسې د نظم کيسې اورېدلې وې، نو وېرېدلي وو او فکر يې کاوه چې ښوونکي به يې هم سختګير وي، نو ځانونه يې غلي کړي وو، خو ښاغلي سيد الف شاه پورته شوی او ورته يې ويلي وو زه ځم. هغوی ورته ويلي وو ستا قد ټيټ دی او ښه عسکري منصبدار نشې کېدلی.



Scanned by CamScanner

# استقلال لیسه کې د شمولیت هیله

استقلال لیسه چې په ۱۳۰۰ لمریز کال پلازمینه کابل کې زرنګار پارک ته مخامخ د فرانسویانو په مالي لګښت جوړه شوه، کوم وخت چې ښاغلی غضنفر په دغه لیسه کې زده کړې کولې، نو ۳۱ فرانسوي ښوونکي، د بیولوژي، کیمیا او فزیک جلا مجهز لابراتوارونه او ښه امکانات او ورزشي وسایل یې لرل او د زده کړې بهیر یې هم ښه وو.

د استقلال لیسې د اوسنۍ ودانۍ ډبره د ۱۹۲۸میلادي کال د مارچ په ۸ د فرانسې جمهور رئیس ژورژ پومپیدو کابل ته د خپل سفر پرمهال کېښوده.

سید الف شاه غضنفر چې په خپل کلي او ښوونځي کې د استقلال لیسې د درسونو او زده کوونکو ستاینې اورېدلې وې، نو ځکه یې په دغه لیسه کې د شاملېدو هیله او لېوالتیا لرله.

مګر د نوموړي د بې کورۍ او بې وزلۍ له امله په استقلال لیسه کې د هغه د شاملېدو هیله پوره نشوه، ځکه د هغه کور په لوګر کې وو او استقلال لیسې د زده کوونکو لپاره لیلیه او د شپې ځای نه درلود.

د دې وس یې هم نه درلود چې په شخصي پیسو کومه کوټه کرایه کړي، ځکه نو د استقلال لیسې پرځای نرسنګ ښوونځي کې شامل شو.



Scanned by CamScanner

# نرسنګ ښوونځی

په لوګر کې د کلنګار لومړني ښوونځي څخه له فراغت وروسته ښاغلی سید الف شاه غضنفر د نورو زده کړو لپاره کابل ته راغی. هغه وایي: له شپږم ټولګي وروسته یې چې د نورو زده کړو لپاره کابل ته واستولو، نو د کابل د معارف مدیر ګل حیدرخان ته ورغلو ، هغه په عین وخت کې د حبیبیه لیسې مدیر هم وو. زموږ هر یوه مخې ته یې د ښوونځي نوم "مکتب پرستاري" لیکلی وو.



پوهاند سید الف شاه غضنفر



Scanned by CamScanner

هغه مهال حبيبيه لېسه د عايشه دراني لېسې په اوسني ځای کې وه. د پرستاري په مانا نه پوهېدم. له لېسې چې راووتلو پل باغ عمومي ته راغلو. ما ويل د پرستاري د ادرس پوښتنه به له چا نه وکړم. پل باغ عمومي کې مې يو نفر ودراوه د پرستاري مکتب پوښتنه مې ځنې وکړه

چې چېرې دی؟

ويل څه يې کوې؟

ما ويل مورېټول يې هلته معرفي کړي يوو.

ويل زه يې مدير يم. لاړ شئ او مبصر ته وواېئ چې ډوډۍ درته حواله کړي او اطاق او بستره درکړي.

بيا کارته چار ته لاړو، هغه وخت موټر نه وو پياده لاړو. د ثريا د نجونو اوسنۍ لېسه چې ده دغه ځای کې پرستاري ښوونځی وو. دا ودانۍ په اصل کې د هاشم خان د غوايانو غوجل وه. دوه منزله ودانۍ وه. شرق لورته يې چې وروسته بيا سپورت مکتب ودانۍ جوړه شوه، دلته د هاشم خان صدراعظم کور وو. هلته داخل شو. پرستاري مکتب ډېر پاک وو، بسترې يې هم سوتره وې. دوه کاله هغه مکتب کې وم.

ښاغلی سيد الف شاه چې په رياضي کې ډېر تکړه و، نو په اوم صنف کې به يې د رياضي په ساعت کې طبي کتابونه لوستل، د رياضي ښوونکي د طبي کتابونو پرځای د انګليسي زده کړې ته وهڅاوه، خو د صنف د نظم په خاطر يې د انګليسي د لوستلو پرځای هغه ته ځينې پوښتنې د حلولو لپاره ورکولې.

پرستاري ښوونځي دوه ښېګڼې او امتيازونه لرل يو دا چې د زده کوونکو لپاره يې ليليه لرله او بله دا چې د مياشتې يې پنځه (۵) افغانۍ د معاش په نامه هم ورکولې. سيد الف شاه به هره مياشت دغه افغانۍ ټولولې او

ځانته به يې د انګليسي کتابونه او نور د اړتيا وړ توکي ورباندې اخيستل. په اتم ټولګي کې يې په جمع شويو پيسو ځانته نوي بوټونه واخيستل.

ډاکټر صاحب غضنفر له ښاغلي ايوبي سره په خپله مرکه کې دغه د نويو بوټونو خاطره داسې بيانوي: " د مياشتې يې پنځه افغانۍ راکولې، اوم او اتم ټولګي کې مې هغه ټولې کړې او ښار کې مې په ۷۰ افغانۍ بوټ واخيستل. نوي بوټونه مې چې پښو کړل، نو ډېر د خوښۍ احساس مې وکړ، له ورا ځلېدل، پل به مې چې اخيست، له ځنګه مې ورته کتل او د هغو له کتو مې خوند اخيست، ځکه لومړی ځل وو چې نوي بوټونه مې په پښو کړل."



Scanned by CamScanner

# د ژبو زده کړه

ښاغلي سيد الف شاه غضنفر په اوو ژبو (دري، پښتو، انګليسي، عربي، روسي، فرانسوي او الماني) خبرې کولې. نوموړي دغه ژبې د زده کړو، کار، مطالعې او تحصيلاتو پرمهال په شخصي هلو ځلو زده کړې.




په اوم ټولګي کې يې د انتاني کتاب چې ترکانو ليکلی وو، د طب پوهنځي له کتابتون څخه اخيستی وو او هغه به يې لوسته. يوه ورځ يې د ښوونځي په چمن کې د دغه کتاب له مخې د محرقې د سرايت او خوربدو په اړه زده کوونکو ته معلومات ورکول، د رياضي ښوونکي چې وليد ورته وې ويل، په دې کتاب دې وخت مه ضايع کوه دا خو هر وخت ويلی شې، انګليسي وو وايه.



Scanned by CamScanner

نوموړي د ښوونکي په همدې سپارښتنه د انتاني کتاب بېرته کتابتون ته ورکړ او په لس افغانۍ يې د انګليسي کتاب واخيست. له دې وروسته يې انګليسي کتاب کوت او د نرسنګ بهرني ښوونکي څخه به يې د لغتونو د مانا او پوښتنې کولې.

د انګليسي د زده کړې په خاطر نوموړی په ژمنيو رخصتيو کې لوګر ته لاړ نه، ځکه ويل که لاړ شم، نو دا زده کړې انګليسي هم راڅخه هېرېږي، نو علي اباد روغتون ته يې عريضه ورکړه، هغوی ته يې وليکل ژمی غواړم همدلته پاتې شم او بې معاشه کار وکړم، خو په دې شرط چې د اوسېدو لپاره اطاق راکړئ.




د علي اباد روغتون ودانۍ

د روغتون مسوولينو ورسره موافقه وکړه. نوموړي د شپې روغتون کې کار کاوه او د ورځې يې انګليسي زده کوله.



Scanned by CamScanner

ښاغلي سيد الف شاه غضنفر پښتو او فرانسوي ژبې هم په علي اباد روغتون کې د عملي کار پرمهال زده کړې. ويل، زه چې علي اباد روغتون ته ورغلم، نو په ۱۳۲۵ کال کې د فرانسويانو نوی ټيم راغی. د دغه ګروپ د مشر فرانسوي چې عقلي او عصبي پروفيسور وو او پروفيسور ټوچ نومېده انګليسي زده وه.

هغه راته ويل راځه له ما سره عقلي او عصبي برخه کې کار وکړه. زه په دې خاطر چې انګليسي ورځخه زده کړم ورغلم. درې مياشتې وروسته يې چې له لرغونپوهې موشولوبيری سره واده وکړ، نو خپل هېواد ته لاړ او بېرته رانغی.

د دغه فرانسوي پروفيسور له تلو وروسته عقلي او عصبي برخه ښاغلي سيد الف شاه غضنفر ته ورپاتې شوه او دی يې عمومي نګران شو. بل فرانسوی چې راغی په انګليسي نه پوهېده، نو سيد الف شاه دېته مجبوره شو چې فرانسوي کورس ووايي.

ښاغلی غضنفر وايي، د رشيدخان فرانسوي زده وه، خو په پښتو نه پوهېده، د پښتنو ناروغانو خبره به مې په دري رشيد خان ته ترجمه کوله. رشيد خان به بيا همغه خبره له فارسي ځخه په فرانسوي نوي راغلي پروفيسور ته ترجمه کوله. ما به د رشيد خان ترجمې ته دقيق غوږ نيوه او په دې به مې فکر کاوه چې پښتو يا دري جمله په فرانسوي څنګه ترجمه کېږي. دغې عملي ترجمې او هغې ته زيات دقت د پښتو او فرانسوي مکالمو په زده کړه کې ډېره مرسته راسره وکړه، ځکه په يو کال کې مې دومره فرانسوي زده کړه چې روانې خبرې مې ورباندې کولې.



Scanned by CamScanner

نوموړی چې بیروت ته لاړ، نو بیا یې هلته هم دوه کاله فرانسوي ولوسته یو کال جبري وه او یو کال یې د کریډیت سیستم په اساس انتخاب کړه. بیروت ښار کې د اکثره خلکو فرانسوي ژبه وه، خو نوموړي به په پوهنتون کې انګلیسي خبرې کولې او دباندې به یې فرانسوي خبرې کولې. ښاغلی غضنفر وایي لبنانیان به خوشاله وو چې انګلیسي خبرې ورسره وکړم مګر ما فرانسوي ورسره ویلې.

ښاغلی سید الف شاه وایي، پښتو مې مکتب کې زده کړه، "زما بادام ډېر خوښ دي" دا زموږ د اول صنف کتاب کې وو. کله به چې کوم پښتون زموږ د کلي له مخې تېرېده، نو ما به ورته ویل، ستړی مشې. هغه به راته ویل، لوی شې.

څلورم ټولګي کې چې وم یوه ورځ اداري ته لاړم سرمعلم او قاري صاحب ناست وو. سلام مې وکړ، قاري راته ویل ستړی مشې. ما ورته ویل، لوی شې. دوی وخندل وروسته چې څلورم ته ورسېدم، نو پښتو مقاله مې لیکلی شوه. ځینې جملې مې حفظ کړې وې چې راته به معنی شوې ما به ویل دا خو مې تاریخ کې ویلې وه. جملې مې تیارې دماغ کې حفظ وې.




Scanned by CamScanner

# عملي کار

نرسنګ ښوونځي د میخانیکي زده کړو تر څنګ په زده کوونکو عملي کارونه هم کول. د اتم ټولګي زده کوونکي د عملي کارونو لپاره علي اباد روغتون ته تلل.

سید الف شاه غضنفر په ۱۳۲۵ کال کې د علي اباد روغتون په عقلي او عصبي برخه کې خپل عملي کار کاوه. په یاد روغتون کې د عملي کار پرمهال د سید الف شاه ورتیا، شخصیت او چلند د روغتون د نرسانو د فرانسوي پروفیسور ټوچ پام ور واړاوه. له هغه سره یې مینه او ملګرتیا شوه.





Scanned by CamScanner

دغه فرانسوي پروفیسور دومره په نوموړي پورې زړه وتاړه چې څو ځله یې په ټینګار ور څخه هیله وکړه چې د ښوونځي له پایته رسېدو وروسته بل چېرې مه ځه همدلته (علي اباد روغتون ته) راشه.

نوموړي د ژمي په رخصتیو کې لوګر ته د تلو پرځای د انګلیسي د زده کړې په خاطر کابل کې پاتې شو، د اوسېدو ځای د ستونزې د حل په موخه یې د علي اباد روغتون سرطبیب قیوم خان رسول ته عریضه ورکړه او هغوی ته یې ولیکل ژمي غواړم بې معاشه کار وکړم یوازې یو اطاق راکړئ. هغوی موافقه وکړه سهار تر غرمې به یې درسونه ویل او شپې مهال به یې په روغتون کې کار کاوه.

علي اباد روغتون، نرسنګ ښوونځی، پوهنتون او طب پوهنځی درې واړه هغه مهال د پوهنې وزارت مربوط وو. د کابل پوهنتون لومړنی رئیس عبدالمجید خان د غاښونو ډاکټر وو چې وروسته بیا د عدلیې وزیر شو. ښاغلي سید الف شاه غضنفر علي اباد روغتون کې په دوه اونیو کې د وینې ټول معاینات زده کړل.

هغه وایي، یوه ورځ یې یو جلبي راوست ویل، په ده کې د شکر ناروغی نښې نه لیدل کېږي، مګر په ادرار کې یې د شکر نښې معلومېدې. ویل، دا باید همدلته ادرار وکړي او بیا معاینه شي. که یې شکر درلود له عسکرۍ به معاف شي او که نه یې درلود، نو باید عسکري ته لاړ شي.

هغه مهال ملي دفاع وزارت خپل ډاکټران نه لرل. هغه کس راغی هلته یې ادرار وکړ چې ټیسټ مو وکړ، نو شکر یې بیا هم مثبت وو. هغه ته مې وویل ته لږ دباندې لاړ شه ډاکټران خپل منځ کې خبرې کوي. ځینو ویل دا

خو د ډیابتس هیڅ اعراض نه لري ده حتماً د ستنې له لارې د بورې محلول مثانې ته داخل کړی او اوس یې په ادرار کې د شکر نښې معلومېږي.
ډاکټرانو خپلو کې خبرې کولې ما لږ بوره را واخیسته او هغلته ایښې ادرار مې نیمایي کړ. نیم مې همداسې پرېښودل او نیمو نورو کې مې بوره واچوله چې کتل مې دواړه منفي وو.
فقیرمحمد خان، نظر محمدخان او نور ډاکټران چې هلته موجود وو ، هغوی ته مې وویل ډاکټر صاحبانو تاسو وایئ چې ادرار کې یې د بورې محلول اچولی، مګر که بوره په ادرار کې ګډه شي، نو بیا یې هم نتیجه منفي وي.
هغوی ویل څنګه؟ ما ویل دا ده دا ادرار نیمایي کوم. نیم کې بوره اچوم نورو کې یې نه اچوم دواړه مې ورته ټیسټ کړل دواړه منفي وو بیا حیران وو چې دا څنګه ده بیا یې هغه نفر له عسکرۍ معاف کړ. وروسته ماته معلومه شوه چې بوره ارجاعي قند نه دی.
ښاغلی سید الف شاه غضنفر وایي، د کال اخر کې نظر محمد خان امتحان راځخه اخیست، د نادرشاه روغتون برنډه کې ناست وم اکثر لابراتواري پوښتنې یې کولې. فقیرمحمد خان راغی نظرمحمد خان ورته ویل، ته راشه دا هلک څومره ښه ځوابونه وایي. ویل هو همغه ورځ یې چې ټسټ وکړ زما باور راغی دا هلک تکړه دی.
له نرسنګ ښوونځي چې فارغ شوم زموږ مدیر او استادانو د پوهنتون رئیس ته یوه عریضه ولیکله چې دا لایق هلک دی طبي مکتب کې یې شامل کړئ. طبي مکتب د نهم صنف فارغان نیول درې کاله درس یې



Scanned by CamScanner

وایه او بیا د ډاکټر معاون فارغېده. په رخصتیو کې چې کورته لاړم ما ویل امر لرم درې میاشتې وروسته طبي مکتب کې داخلېږم.

کاکا مې وویل ، له هغه څه شي فارغېږې؟

ما ویل د ډاکټر معاون.

په ټوکه یې راته وویل د ډاکټر اخر؟

ما ویل هو.

ویل باید ته د ټولو سرواوسې نه اخر.

درې میاشتې وروسته چې راغلم، نو طبي ښوونځی فرانسویانو بند کړ، نوي زده کوونکي یې ونه نیول او د دویم او دریم ټولګي زده کوونکي یې تکنالوجیستان وروزل.



Scanned by CamScanner

# لومړنۍ دنده

سید الف شاه غضنفر له ډاکترۍ سره ځانګړې مینه لرله او په ښوونځي کې یې د خپلو درسونو تر څنګ د طب پوهنځي د محصلینو لکچرنوټونه هم لوستل، ځکه د ښوونځي درسونه به یې چې زده کړل، نو خپل فارغ وخت یې په اضافي مطالعه او د طب پوهنځي په لکچرنوټونو تېراوه.



نوموړي چې په ۱۳۲۵المریز کال نرسنګ ښوونځی په عالي درجه پایته ورساوه، نو د فرانسوي نرس پروفیسور ټوچ په غوښتنه علي اباد روغتون ته لاړ او د دغه روغتون په رواني برخه کې یې خپل



Scanned by CamScanner

کار او رسمي دنده پیل کړه.

علي اباد روغتون نوموړي ته د میاشتې ۹۰ افغانۍ معاش او ۵۰ افغانۍ د مسلک ورکولې چې ټولې د میاشتې ۱۴۰ افغانۍ کېدلې. نوموړي خپله میاشتنۍ تنخوا خپل پلار او کورنۍ ته د ورځنیو اړتیاو د پوره کولو لپاره ور استوله او خپله یې یوازې د روغتون په ډوډۍ ګوزاره کوله.

سید الف شاه غضنفر له طبابت سره د مینې له امله تر نیمو شپو د ناروغانو له خدمت څخه خوند اخیست. هره ورځ یې ۸۰ عقلي او عصبي ناروغانان کنټرولول، هر یوه ته یې دوا ورکوله او تطبیقوله.


نوموړي له سټریا پرته دومره په صداقت د ناروغانو پالنه کوله چې فرانسوي نرس خپل هېواد ته له تلو وروسته دی د عقلي او عصبي څانګې د نرسانو مشرکړ.



Scanned by CamScanner

# د طبابت مینه

د ناروغانو پالنې او له ډاکټرانو سره سروکار د طبابت مسلک سره د سید الف شاه غضنفر علاقمندي نوره هم زیاته کړه. هغه تصمیم ونیوه چې د طب ډاکټر شي، خو تل په دې فکر کې وو چې خپلې دغې هیلې ته څنګه ورسېږي؟





Scanned by CamScanner

نوموړی علي اباد روغتون کې د عملي کار پرمهال د طب پوهنځي بېلابېلو صنفونو ته تلو او هلته یې د فارمکولوژي په ګډون د نورو مضامین او لکچرونه اورېدل. هغه وايي یوه ورځ مې ډاکټر محمودي ته وویل، زه خو یوه ورځ یو صنف ته ځم او بله ورځ بل صنف ته، ایا دا امکان شته چې یو صنف کې ټول مضامین تعقیب کړم بیا اخر کې ازموینه ورکړم؟

هغه راته ویل نا، ته باید دولسم ولولې او بیا طب پوهنځي ته داخل شې.


نوموړي چې تر دې مهاله یوازې تر اتم ټولګي پورې ښوونځی ویلی وو، نو طب پوهنځي ته د داخلېدو لپاره یې باید ۱۲ ټولګی ختم کړی وای. په سیدجمال الدین افغان شپې دارالمعلمین کې د شاملېدو په خاطر یې پوهنې وزارت ته خپل لیکلی غوښتنلیک وروسپاره.



Scanned by CamScanner

# شپې دارالمعلمین

سید الف شاه غضنفر په ۱۳۲۸ لمریز کال د ښوونځی د بشپړولو او طب پوهنځي ته د داخلېدو په فکر کې شو، خو علي اباد کې د کار پرېښودل هم ورته سخت وو، ځکه چې یاد روغتون د میاشتې ۱۴۰ افغانۍ معاش او کوپون ورکاوه، چې کورنۍ ته یې غنیمنت وو.



ښاغلی غضنفر وایي، د شپې دارالمعلمین په نوم یوه موسسه وه معلمانو باندې یې لسم، یولسم او دولسم په څلورو کالو کې لوستل. درې بجې یې درس پیلېده تر ۷ بجو پورې یې دوام کاوه لاړم هلته داخل شوم چې



Scanned by CamScanner

ساینس ولولم، خو هغه کال د شاګردانو د نشتوالي له امله ساینس ټولګی جوړ نشو.

سید الف شاه غضنفر مجبور شو چې د اجتماعیاتو نهم ټولګی ولولي، مګر جالبه دا وه چې په کلنۍ ازموینه کې د اجتماعیاتو برخه کې هم اوله نمره کامیاب شو.

بل کال بیا هم د شپږ دارالمعلمین کې د ساینس لسم او یولسم ټولګي جوړ نه شول. هغه وایي، یوه ورځ مدیر زموږ ټولګي ته راغی. ویل څوک ساینس لولي؟

زموږ ښوونکی غلام حسن مجددي هم په صنف کې وو زه اول کتار کې وم پورته شوم ما ویل زه یې لولم،

ویل یو ازې ته؟

ما ویل نا نور شاګردان هم شته، چې شاته مې وکتل نور د استاد له وېرې غلي په خپلو ځایونو ناست وو.

مدیر راته ویل کېنه د یو نفر لپاره صنف نه شو جوړوی. بیا استاد تر اخره ماته ویل ته له ما تښتېدې.

شپږ دارالمعلیمن کې چې اجتماعیاتو کې شامل شوم. کیمیا، بیولوژي، ساینس ریاضي او نور مضامین مې خصوصي لوستل. فزیک مې د علي اباد روغتون مالي مدیر عبدالواحد خان څخه چې استقلال لېسه کې د فزیک استاد وو، زده کاوه.


رفیق خان نه مې کیمیا ویلې. غلام علي نه مې د یولسم صنف فزیک ویلې. دا ټول خصوصي وو. اخر کې مې چې د اجتماعیاتو ازموینه ورکړه اول نومرد شوم.



Scanned by CamScanner

# د سوبې ازموينه

شپې دارالمعلمين کې د ساينس ټولګي د نه جوړېدو له امله ښاغلي سيد الف شاه غضنفر د لسم او يولسم ټولګي د سوبې ازموينې ورکولو په موخه پوهنې وزارت ته خپل غوښتنليک ورکړ. هغه وايي، معارف وزارت ته مې د ترور د زوی په لاس يوه عريضه ولېږله او ورته ومې ويل چې علي احمدخان ته يې يوسه چې د ساينس اول او دويم صنف ازموينه ورکوم او دريم کې داخلېږم.



هغه ته مې وويل که امر يې نه ورکاوه، نو همدلته دې زما په عريضه وليکي چې قوانين او مقررات نه ايجابوي. ما ويل دا به د سند په توګه له ځان سره وساتم. که بله ورځ چا پوښتنه کوله، نو ورته وايم به ما غوښتل د



Scanned by CamScanner

خپلې خوښې مضامين ولولم خو چا اجازه رانکړه.

د ترور زوی یې چې پوهنې وزارت ته عریضه ور وړې وه، نو وزارت د سویې د ازموینې د ورکولو اجازه ورکړه. بیا یې نو تیاری نیوه او د هر مضمون ازموینه یې ورکوله

ښاغلی سید الف شاه غضنفر وایي، د فزیک د ازموینې د ورکولو لپاره خالق خان ته چې وروسته بیا د هوایي چلند اداري رئیس شو شاه دوشمشیره شپږم نمبر ښوونځي ته ورغلم هغه د شپې دارالمعلمین کې د مثلثاتو درس ورکاوه. عریضه مې ورته کېښوده. چې وې لیدل دوه صنفه ازموینه ورکوم، نو فکر یې وکړ چې واسطه دار یم، تندی یې تریو کړ، ویل د څه شي امتحان درنه واخلم؟

ما ویل خو څه شی چې درس ورکوې. یو زده کوونکي ویل دا پوښتنه ورځخه وکړه، بل زده کوونکي بل سوال ښوده ویل، دا ورځخه وکړه. څو سختې پوښتنې یې راکړې.

زه د پوښتنو په حلولو بوخت شوم او ښوونکي زده کوونکو ته تدریس کاوه. دا د ساینس دریم صنف وو چې د دولسم معادل وو. استاد له زده کوونکو وپوښتل چې زاویه په څه شي اندازه کېږي؟ زده کوونکي وویل په درجه؟

ښوونکي بیا وپوښتل بل په څه شي؟ ویل په ګراد.

بیا یې وپوښتل بل په څه شي اندازه کېږي؟

ټول زده کوونکي غلي او بې ځوابه شول، زه چې د ټولګي په یوه څنډه کې د فزیک پوښتنو د ځوابونو په لیکلو بوخت وم او نیمې پوښتنې مې حل کړې وې، قلم مې کېښود لاس مې پورته کړ ما ویل زه یې ووایم؟

استاد ډېر وخندل ویل، اول صنف کې ناکام پاتې کېږي، نو د دریم شاګردان بې چې نه شي ویلی نو ته به یې څنګه ووایې؟ ما ویل په مثلثاتو کې اکثره زاویې په رادیان اندازه کوي. د دې ځواب په اورېدلو سره استاد ډېر خوشاله شو. راغی پارچه یې رانه واخیسته وې ویل: بچې مې ورځه کامیاب شوې.


ورځ وروسته مې همغه زده کوونکي ټولګیوال وو او دولسم کې شامل او بېرته اول نومره شوم. دلته مې اوه مضمونونه ویل څلورو مضامینو کې مې سل او درې نورو کې مې ۹۵ نومرې یوورې. او د دویم نومره اوسط له ۶۵ څخه لوړ نه وو.



Scanned by CamScanner

# حبيبيه ليسه

ښاغلي سيد الف شاه غضنفر بله ورځ بيا فکر وکړ چې ممکن له شپږ دارالمعلمين څخه يې طب ته شامل نه کړي، نو څو ورځې وروسته يې بيا پوهنې وزارت ته عريضه وليکله او غوښتنه يې وکړه چې په حبيبيه ليسه کې شامل شي.



حبيبيه ليسه چې په هېواد کې د عصري زده کړو لومړنی مرکز دی او په



Scanned by CamScanner

۱۲۸۱ لمریز کال جوړه شوې هغه مهال چې ښاغلي سید الف شاه په کې زده کړې کولې. نو افغان، امریکایي او هندي ښوونکو زده کوونکو ته تدریس کاوه او د زده کړې کچه یې ډېره لوړه وه.

ښاغلی غضنفر وایي، پوهنې وزارت ته مې عریضه ورکړه ما ویل حبیبیه لېسې ته ځم یوسف خان د معارف وزارت معین وو امر یې راکړ او وې لیکل حبیبیه لېسې ته دې معرفي شي او هر صنف کې چې مطابقت کوي هملته دې شامل شي. دا امر مې د تدریساتو مدیر اکرم خان ته ور وړ. هغه ویل نا دا باید دلته معلومه شي چې ته کوم صنف ته لاړ شې. ویل ته هم راشه باید د وزارت مجلس پرېکړه وکړي.

زه لاړم دروازه کې ودرېدم. یوسف خان ورته وویل، ما لیکلي دي چې هر صنف کې مطابقت کېږي هملته دې داخل شي. اکرم خان ویل نا همدلته باید تثبیت شي، ځکه ده دا نور صنفونه اساسي نه دي لوستي. یوسف خان ورته وویل چې اساسي یې نه دي لوستي، نو بیا څنګه د هغو زده کوونکو په منځ کې چې اساسي یې لوستي دي، اول نومره شو؟

اکرم خان ویل، عجیبه دا ده چې ده شخصي انګلیسي زده کړې. ما ویل که لیاقت په ژبه وي ما خو فرانسوي هم زده کړې، یوسف خان ماته ویل، خبرې ورته وکړه: ما په فرانسوي ورته وویل "ایا غواړئ څه شی په فرانسوي درته ووایم؟" ویل سمه ده. پوهنې وزارت پرېکړه وکړه چې د یولسم مشروطانو سره ازموینه ورکړم که کامیاب شوم دولسم ته به لاړ شم او که ناکام شو نو یولسم دې ولولي.

زه خوشاله شوم لاره راته خلاصه شوه. لاړم د حبیبیې د یولسم ټولګي



Scanned by CamScanner

ازموینه مې ورکړه او دولسم ته کامیاب شوم. په ۱۳۳۰ لمریز کال حبیبه لېسه کې داخل شوم. د لېسې موقعیت همدا اوسني ځای کې وو. مدیر یې لارسن امریکایي وو مور ته یې دفزیک درس راکاوه. نور استادان یې داخلي وو. شکور خان د تفتیش رئیس و مور ته یې د ریاضیاتو درس راکاوه ځکه استادان کم وو.

زما یو بل ټولګیوال له کندهاره راغلی وو زه له شپې راغلی وم دواړه څنګ په څنګ کېناستو. دولسم صنف هغه مهال کتابونه نه لرل. صالح پرونتا دري درس راکاوه. زده کوونکو ویل یو کتاب به واخلو او استاد به یې د دري پرځای راته وایي. یوه ویل ګلستان اخلو، بل ویل بوستان اخلو خو تر اخره پرېکړه ونشوه چې څه شی اخلو.

بله ورځ استاد راغی د لبناني لیکوال جبران خلیل جبران کتاب (پیغمبر) چې عبدالرحمن پژواک دري ته ژباړلی وو ورسره وو، ویل د ادبیاتو ښه کتاب مې ترلاسه کړی د هغه درس او نوټ درکوم. هره ورځ یې دوه مخه درس راکاوه، تر سنبلې میاشت پورې مو دا کتاب ولوست.

سنبله میاشت کې درمحمد خان مانه پوښتنه وکړه دا مور یې چې لولو دا ګلستان دی که بوستان؟ ورته ومې خندل ما ویل ولا زه هم نپوهېږم، ځکه په صنف کې خو تر پایه فیصله ونشوه چې ګلستان لولو که بوستان، خو ته له معلم څخه پوښتنه وکړه، ګوته یې جګه کړه، ښوونکي ورته ویل څه وایې؟

درمحمد خان ورته ویل، معلم صاحب دا ګلستان دی که بوستان، ټول صنف وخندل.



Scanned by CamScanner

ښاغلی سید الف شاه غضنفر حبیبه لیسه کې د دولسم ټولګي اول سمستر کې په انګلیسي کې مشروط شو، ټولګیوالو یې فکر کاوه چې انګلیسي یې زده نه ده نو شاید کامیاب نه شي. مګر دویم سمستر کې د فزیک معلم یو شاګرد ته سوال ورکړ چې د یو تار منځ کې یو وزن دی، خو د وزن دواړو لورو ته واټن مساوي نه دی، نو د دې وزن دواړو لورو ته ټینشن پیدا کړئ.

هغه زده کوونکي دا سوال حل نشو کړای، حتی معلم هم په سختۍ دا پوښتنه حل کړه، خو زما په شمول د ډېرو پام نه وو. معلم په اخر کې وویل، دا پوښتنه د شنبې ورځې په ازموینه کې راوړم، بیا یې نو په تخته د پوښتنې لیکلی ځواب ړنګ کړ، زده کوونکي سره وارخطا شول. دا پوښتنه په هغه کتاب کې چې په هندوستان کې د ښوونځیو لپاره لیکل شوی وو، حل شوې وه.

هغه وایي زه چې علي اباد روغتون ته لاړم کتاب مې درلود واز مې کړ د پوښتنې حل مې یاد کړ. د شنبې ورځ ازموینه کې ریښتیا هم دا سوال راغی. ما حل کړ نورو نه وو حل کړی، ځکه په هغه ورځ یې پام نه وو.

بله ورځ چې ښوونکي نومرې راوړې زما ۸۴ وې د اول نومره ۷۱ وې. له هغه وروسته ټولو ویل چې اول نومره کېږم. حتی ماته یې پلان جوړ کړی وو چې د ازموینې په ورځو کې یو څه راکړي چې ګنګس او له ازموینې یا حد اقل له اول نمرګۍ پاتې شم.

زده کوونکي علي اباد روغتون ته له ماسره د درس ویلو لپاره راتلل، ځینو ویل د امتحان وخت کې له شفاخانې رخصت واخله او زموږ کور کې



Scanned by CamScanner

یو ځای درس وایو. یو نفر د علیشاه په نوم د لوګر د زرغون ښار وو هغه ته ورغلي او ورته ویلي یې وو یوه ماده راکړه چې یو کس درې څلور ورځې ګنګس کړي خو مړ نشي. بیا هغه ماته ویل پام کوه د ازموینې ورځو کې چېرې لاړ نشې دغسې خبره ده.

بیا زه ډاکټر رشید خان ته لاړم ما ویل دلته راته ولیکه چې له دې تاریخ څخه تر دې تاریخ پورې باید په روغتون کې واوسم. ویل ولې؟ ما ویل ته خوشاله نه یې چې زه ۲۴ ساعته په روغتون کې اوسم. بیا نو چې ټولګیوالو راته ویل چې له دوی سره کورته د درس ویلو لپاره لاړ شم، ما ویل متاسفانه زه نشم کولی. ډاکټر راته لیکلي چې له روغتون څخه باید لیرې نه اوسم. د اول، دویم او دریم نمره تر منځ د بهرني سکالرشیپ رقابت وو.

سید الف شاه غضنفر په حبیبیه لیسه کې ۳۶ ټولګیوال لرل. هغه مهال د دولسم ټولګي فارغ اول نومره، دویم نومره او دریم نومره د لوړو زده کړو لپاره بهرنیو هېوادونو ته استول کېدل.

د دولسم ټولګي په کلنۍ ازموینه کې د ۳۶ کسانو له جملې څخه یوازې اته تنه په کلنۍ ازموینه کې کامیاب شول او ښاغلی سید الف شاه غضنفر په هغو اتو کسانو کې دویم نمره شو.

وزارت په پام کې لرله چې نوموړی د سِول انجنیري په برخه کې بهر ته د زده کړو لپاره واستوي او په کارتوګرافۍ کې تخصص وکړي، خو له ښکه مرغه چې په هغه فرصت کې هلمند وادي له پوهنې وزارت څخه وغوښتل چې څو کاله وروسته د هغه روغتون لپاره چې د جوړولو کار یې



Scanned by CamScanner

روان وو ډاکټر ته اړتیا لري، نو له دې امله وزارت له دوه نورو ټولګیوالو سره بیروت امریکایي پوهنتون ته د طب په برخه کې د زده کړو لپاره واستاوه.

سیدعبدالحمید غضنفر وایي، ښاغلي سید الف شاه غضنفر چې له حبیبیه لیسې څخه له فراغت وروسته بیروت امریکایي پوهنتون ته د تحصیل لپاره تللو ، زه او څو ورونړه او وریرونو چې تقریباً ۱۱ او ۱۲ کلن وو زموږ په پلرني کلي کې له هغه سره یو ځای وو.

په څلورم ټولګي کې جغرافیې مضمون زموږ لپاره نوی وو او ستونزې مو په کې لرلې. ما وغوښتل چې جغرافیه راته خلصه کړي او د ابنا ، خاکنا ، خلیج او جهیل په مانا و مو پوه کړي.

په ټوکه یې راته وویل غواړې خلصه یې کړم؟ یوه کرښه ولوله او یوه کرښه مه لوله.

موږ یو بل ته وکتل او ومې ویل نا داسې خلص مو نه دي ویلي.

ویل: ښه یو مخ یې لولئ او یو مخ یې مه لولئ.

بیا مو وویل نه داسې نه.

وې ویل، ښه یو مخ ولولئ دوه مخه مه لولئ.


ټولو وخندل بیا یې موږ د لوګر سیند غاړې ته بوتلو. هلته یې د پر اشکال او مفاهیم موږ ته په ژوندۍ او عملي بڼه را وښودل، راته تشریح یې کړل او را وې پیژندل د هغه نیک چلند ، زغم او مهرباني به تل زموږ په یاد وي. نوموړی د ۱۳۳۱ المریز کال په میزان میاشت کې بیروت ته لاړ.



Scanned by CamScanner

# پېژندنه

ښاغلي ډاکټر سید الف شاه غضنفر د افغانستان د خپلواکۍ د بېرته ګټلو اتل غازي امان الله خان د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د لوګر ولایت د کلنګار ولسوالۍ په سیدانو کلي کې د سید محمود په کور کې وزېږېد. د زوکړې دقیقه نېټه یې نه ده معلومه هغه په خپله وایي، ما مې چې له مور څخه د زوکړې نېټې په اړه پوښتنه وکړه، نو راته ویل یې چې سقاوۍ کې یو کلن وې. نو په دې اساس ممکن زه په ۱۳۰۷ لمریز کال زېږېدلی یم.



سید الف شاه غضنفر له کوچنیوالي څخه ذهین او زحمتکش وو او د خپلې وړتیا او زحمتونو په اساس د طبابت په برخه کې د نومیالي



Scanned by CamScanner

شخصیت په توګه وځلېده د پوهاندۍ علمي رتبې ته ورسېد او په خپل ژوند کې یې ډېرې ارزښتناکې څېړنې او لاسته راوړنې لرلې.

نوموړي د ۱۳۸۸ لمريز کال په حمل میاشت کې د زړه د حملې له امله د سترګو دید له لاسه ورکړ؛ مګر د دې باوجود یې هم د هېواد او خلکو د خدمت په موخه علمي او څېړنیزې چارې جارې وساتلې.

پوهاند سید الف شاه غضنفر په ۱۳۹۰ لمريز کال په ۸۴ کلنۍ کې تقاعد وکړ؛ له تقاعد وروسته یې هم په صحي برخو کې له ګټورو مشورو څخه استفاده کېدله



Scanned by CamScanner

# زنداني کېډل

ډاکتر سید الف شاه غضنفر نه په ځواني او نه هم په زړبودي له سیاست او سیاسي فعالیتونو سره علاقه لرله او نه هم د کوم سیاسي ګوند، ډلې او ټپلې غړی او خواخوږی وو. هغه وايي، زموږ هغه همکاران او ملګري چې په سیاست کې یې ګوتې وهلې تل به خپل ورسپارل شوي کارونه ورځخه پاتې وو او په ناحقه غوندو او منډو کې ستړي او سرګردان وو.
سره له دې چې نوموړي نه په سیاست غرض درلود او نه یې له سیاسي فعالیتونو او حرکتونو سره خواخوږي لرله، تول ورځ په خپلو علمي څېړنو او طبي هڅو بوخت وو، مګر د دې باوجود د ۱۳۵۷ لمریز کال د اسد په۱۱ د کودتاه په تور په شخصي غرضونو بنا د ناسم راپور په اساس بندي شو.
راپورچي جنابانو نه ویلي وو چې ښاغلي غضنفر د خپلې امریکایي مېرمن پر مټ چې یوه میاشت دلته وي او یوه میاشت په امریکا کې د کودتاچیانو او امریکایانو اړیکې سره ټینګې کړي او د هغوی همکاري او تعهد یې جلب کړی دی.
هغه وايي، د کورنیو چارو وزارت جنابي چې زه ور وغوښتلم ویل.
امریکایي مېرمن لرې؟
ما ویل هو.
ویل چېرې؟
ما ویل.۱۳۵۷ لمریز کال کې چې لاړه نو بیا هیڅ رانغله. ځکه د مور سترګې یې ړوندې دي او د هغې خدمت کوي بهرنیو چارو وزارت نه یې



Scanned by CamScanner

پاسپورټ اخیستی تاسو بې کتلی شئ چې په افغاني پاسپورټ تللې او بېرته نه ده راغلې.

هغه کیسه کوله، د کورنیو چارو وزارت جنایي څانګې ته یې بوتلم سخت یې شکنجه کړم په کېبل یې ووهلم او لاس مې مات شو او بیا یې چې په سر ووهلم نو بې هوښه شوم. چې په هوښ شوم لمر لوړ ولاړ وو او کوټه په وینو ککړه وه. ۲۴ ورځې یې د دې لپاره په زندان کې وساتلم چې ټپونه مې ښه شي.

ښاغلی سید الف شاه غضنفر د کودتا په نوم د یو شخصي غرض ښکار شو، څکه ده ته لاربښوونه شوې وه، کومو شرکتونو او کمپنیو چې قېمتونه لوړ کړي او د ۱۳۴۹ کال قېمتونه نه مني، نو هغه مه ثبتوه، بیا نو د همدغې یوې کمپنۍ استازي چې پوهاند صاحب غضنفر د قېمت د لوړوالي له امله د هغوی شرکت نه وو ثبت کړی، حکومت ته په دروغو راپور ورکړی وو او د همغه په اساس ښاغلی غضنفر بندي او سخت شکنجه شو.

کله چې ولسواکي او فردي ازادیو ته درناوی نه وي، مستبد او دیکتاتور رژیمونه حاکم وي، نو هیڅوک هم ځان مصئون نه احساسوي، حتی د ټولنې روښانه او بې غرضه اشخاص لکه ښاغلی غضنفر هم ځورول کېږي، وهل کېږي، شکنجه کېږي او حتی وژل کېږي، خو ډاکټر صاحب غضنفر په دې بختور وو چې د هغو مستبدو له پنجو څخه له سختو شکنجو وروسته بیا هم ژوندی پاتې شو او د هغوی له زندان او شکنجو وروسته یې بیا هم په عادي ډول خپلو علمي او طبي څېړنو او خدمتونو ته ادامه ورکړه.



Scanned by CamScanner

# د يوې فرانسوۍ د ژوند ژغورل

ډاکټر سيد الف شاه غضنفر بيروت امريکايي پوهنتون کې د تحصيل پرمهال چې د طب پوهنځي د دريم ټولګي محصل وو، د امريکا د معالجوي او تحقيقاتي پروفيسورانو د ګروپ غړی هم وو. نوموړي همغه مهال د يوې فرانسوۍ مېرمنې چې د ځان وژنې هڅه يې کړې وه، ژوند ژغورلی دی.



هغه سباوون مجلې سره په مرکه کې د دغې فرانسوۍ د ژوند ژغورلو خاطره داسې بيانوي: يوه ورځ يوې ځوانې فرانسوۍ ښځې چې غوښتل يې د خوب د زياتو درملو په خوړلو سره ځانوژنه وکړي. په بيروت کې فرانسوي ډاکټرانو نظر ورکړی وو چې دا ښځه مړه شوې او د هغې د درملنې هيڅ امکان نشته، په کوما حالت کې يې زموږ د پوهنتون اړوند



Scanned by CamScanner

روغتون ته راوړه، هغه هم په دې خاطر چې د روغتون په سره خونه کې يې وساتي تر څو فرانسې ته تر انتقال پورې د هغې جسد خراب نشي.

دا ښځه يې چې روغتون ته راوړه د محالجوي او تحقيقاتي ګروپ پروفيسورانو د هغې ښځې د ژغورنې د وروستۍ هڅې مشوره وکړه. ټولو ومنله ناروغ يې ماښام ۷ بجې عمليات خانې ته انتقال کړ درملنه يې پيل شوه، له څو ساعته هلو ځلو او د لابراتواري معايناتو له بشپړولو وروسته د پروفيسورانو د ګروپ مشر په تاسف سره وويل چې موږ دې ناروغ ته نجات نشو ورکولی، ځکه د دوه کارونو ترسره کول سخت او زموږ په وس نه دي.

يو دا چې د دې ناروغ د وينې PH د عمليات تر پای پورې هره شيبه له وقفې پرته نشو کنټرولولی او دويم د وينې د تصفيه کوونکې دستګاه لازم مراقبت نشو کولی، ځکه په هر ساعت کې بايد ۲۰۰ لېټره مايع تبادله کړي. ټول ګروپ خواشينی شو اما زه چې دمخه مې په دې اړه څېړنې کړې وې، پروفيسور ته مې وويل د دې دواړو کارونو اجرا زه په غاړه اخلم پروفيسور او د ګروپ ټول غړي خوشاله شول.

ماښام اوه بجې مو چې د هغې درملنه پيل کړې وه ادامه مو ورکړه، ناروغ چې کاملاً په ژوره کوما کې وو د سهار ۴ بجې يې سترګې پرانيستلې، له غرمې مخکې ۱۱ بجې يې د خبرو توان پيدا کړ او د مازديګر پنځه بجې په بستر کې کېناستله له ما سره يې خبرې وکړې.

له روغتون څخه د رخصتېدو پرمهال د ځان وژنې په هڅه سخته پښېمانه وه او د تلو پرمهال چې له دې خبره شوه چې د هغې د نجات سخت کار ما ترسره کړی، نو هره اونۍ راتلله او د ګلونو ګېډۍ يې راکوله.



Scanned by CamScanner

# بیروت امریکایي پوهنتون

ښاغلی سید الف شاه غضنفر په ۱۳۳۱ لمریز کال له خپلو دوه نورو ټولګیوالو (رفیق وزیري او کبیر نورزی) سره یو ځای د طب په ځانګه کې د تحصیل لپاره په لبنان کې بیروت امریکایي پوهنتون ته لاړ.



د کال په اخر کې یې د ترکیې، ایران، پاکستان، مصر، سوډان او ګڼو نورو هېوادونو د زده کوونکو د ازموینې له پایلو د هر ښوونځي د زده کوونکو د نمرو اوسط معلوم کړ، د دغه اوسط له مخې د۲۰۰ هغو کسانو په منځ کې چې د طب پوهنځي لپاره یې نوم لیکنه کړې وه، حبیبیه لېسه اوله درجه شوه.

د لومړي مقام له ګټلو وروسته د بیروت امریکایي پوهنتون اداري پرېکړه وکړه، چې له دې وروسته هر کال د افغانستان د حبیبیه لېسې زده



Scanned by CamScanner

کوونکي له ازموينې پرته پوهنتون کې شاملېدلی شي، مګر د نورو هېوادونو زده کوونکي به د شموليت ازموينه ورکوي. په دغه کال ۲۰۰ تنه طب ته کانديد وو، چې ۱۸ تنه يې افغانان وو.

ښاغلي سيد الف شاه غضنفر څلور کاله وروسته له ياد پوهنتون څخه په کيميا څانګه کې د ليسانس ډيپلوم په امتياز سره ترلاسه کړ، يانې له ياد پوهنتون څخه عمومي اول نومره فارغ شو.



په۱۳۳۸ لمريز کال يې د بيروت پوهنتون طب پوهنځي څخه په لومړۍ

درجه د دکتورا ډیپلوم ترلاسه کړ او وروسته د امریکا هارورډ پوهنتون کې د څېړنو د معاون په توګه شامل شو.

لومړی څېړنه یې هایدروجن سره د کاربن د اړیکې د پیاوړتیا په اړه په همغه مالیکول کې د برقي چارج د تاثیر په اړه وه چې پایله یې په دوه بین المللي نشریو کې خپره شوه.

نوموړی دوه کاله په امریکا کې د پروتینونو فزیکي کیمیا په څېړنو بوخت وو چې د امریکا علمي مجلو کې د څلورو اثارو په خپرولو بریالی شو.

په ۱۳۴۱لمریز کال کې د امریکا متحده ایالتونو اضلاع علمي بنسټ د شل زره امریکایي ډالرو یوه ډالۍ ورکړه، مګر په دغو پیسو یې د کابل طب پوهنځي بیوشیمي څانګه کې د یو څېړنیز لابراتوار لپاره وسایل واخیستل او وطن ته راستون شو. یاد لابراتوار یې ایجاد او په افغانستان کې یې څلور کاله په غیر طبیعي هیموګلوبین څېړنه وکړه چې د هغې پایلې یې د لبنان طبي مجله کې خپرې کړې.

ښاغلي پوهاند غضنفر بیروت امریکایي پوهنتون څخه له فراغت وروسته افغانستان ته د تګ پرځای د لا ډېرو زده کړو او څېړنو لپاره امریکا ته لاړ.

هغه وایي، کوښښ مې وکړ له لبنان څخه امریکا ته لاړشم، څکه له هغه ځایه تماس او تګ اسانه وو. غوښتل مې څېړنې وکړم او ضمناً مې کوښښ وکړ په یو پوهنتون کې هلته کار پیدا کړم چې معلومات مې وسیع شي، نه دا چې په یو معین شق کې سړی تخصص واخلي او بیا محدود پاتې شي.



Scanned by CamScanner

نوموړي په همدې موخه له خپل يو استاد څخه د امريكا په كوم پوهنتون كې د ځاى موندلو غوښتنه وكړه. استاد يې د امريكا هارورډ پوهنتون ته مكتوب وليكه په مكتوب كې يې ورته وليكل كه تاسو په خپل څېړنيز ډيپارټمنټ او لابراتوار كې ورته ځاى وركړئ، نو زه به له يونسكو څخه ورته سكالرشيپ واخلم او درو به يې لېږم.

پوهاند صاحب غضنفر وايي، مكتوب هغه امريكايي پروفيسور ته ورسېد چې بيروت پوهنتون كې يې مورِ ته فزيكل كميسټري درس راكاوه او هغه زما د همدغه استاد لاس لاندې چې مكتوب يې ور استولى وو كار كاوه او زما استاد زما ډېر تعريف ورته كړى، بيا يې ور وغوښتلم، د اوسېدو ځاى او مصارف يې هم راكړل، نورو محصلينو ته يې د مياشتې ۱۸۰ ډالره وركول، خو ماته يې د مياشتې ۵۰۰ ډالر تعين كړل بيا هلته لاړم او كار مې ورسره وكړ. دعلمي څېړنو لپاره هلته لاړم. حاضري مې تغير كړه له اتو بجو تر يوې تلم لكچر مې اورېده بيا تلم لابراتوار كې مې كار كاوه څلور ساعته مې له رسمي وخت وروسته لابراتوار كې كار كاوه.

# د ډاکټر غضنفر شخصیت

ډاکټر سید الف شاه غضنفر زحمتکشه ، حلیم، کمینه او خدمتګار انسان وو. تل په علمي او څېړنیزو چارو بوخت وو. خپل ولس او خلکو ته د خیر او منفعت رسولو په فکر کې وو. شپه او ورځ يې خپلو درسونو ته پام کاوه. بریالیتوب ته د رسېدو لپاره یې د طبیعي استعداد ترڅنګ زحمت، کوښښ، تمرکز، ډیسپلین او له وخت څخه اعظمي ګټه اخیستل مهم بلل.



نو موږ ي د ستونزو او چلینجونو په منځ کې خپلو موخو او هیلو ته رسېدل د زحمتکشه او لویو انسانانو ځانګړنه بلله. هغه به ویل، څومره چې انسان له سختیو او ستونزو سره مخامخېږي، نو همغو مره یې ذهن



Scanned by CamScanner

ښه فعالېږي، خو په دې شرط چې له ستونزو سره د مقابلې په اساسي لارو د فکر او تمرکز تر څنګ خپل کوښښونه هم جاري وساتي.
ډاکټر غضنفر تل له وخت څخه اعظمي ګټه اخیستې. هغه وايي، علي اباد روغتون کې چې وم زیاته مطالعه مې کوله. ځکه د هر مشران مې لیدلي وو چې په تېر وخت پسې به یې لاسونه مروړل او له هغه څخه د اعظمي ګټې اخیستنې ارمانونه به یې کول. نو ما ویل سبا د دوی په شان په تېر عمر پسې د لاسونو مروړلو پر ځای ښه داده چې سر له اوسه له خپله وخته ښه ګټه واخلم.
علي اباد روغتون کې به ناروغانو د رخصتېدو په ورځ نرسانو ته روپۍ ورکولې، مګر ډاکټر غضنفر چې ان د ځوانۍ او متعلمۍ له وخته یو لړ قوانینو، اصولو او مقرراتو ته درناوی درلود او د هغو کلکه پیروي یې کوله، نو له همدې امله به یې د ناروغ د رخصتېدو په وخت کې په یوه پلمه د دوی له سترګو ځان پناه کړ.
هغه وايي، ما ویل که د ناروغانو پایوازان روپۍ راته ونیسي او وایې نخلم نو دوی ته به ځان کم ښکاره شي، نو دا مې نه وربانديې لورېدله او نه مې عزت نفس دا منله چې له هغوی څخه دې پیسې واخلم، نو تر دې مې دا غوره ګڼله چې هغه شیبه د دوی له مخې ځان چپ کړم.
ښاغلي ډاکټر غضنفر تر پایه پورې شخصي معاینه خانه او لابراتوار جوړ نه کړ، ځکه هغه مهال حکومت د دې لپاره چې استادان خپل تدریس، علمي او څېړنیزو کارونو ته زیات پام وکړي او په نورو کارونو کې بوخت نشي، نو هغوی ته یې د کدر معاش ورکاوه او ښاغلي غضنفر همدغه



Scanned by CamScanner

تړون ته په درناوي نه معاینه خانه جوړه کړه او نه هم لابراتوار. په همغه معاش یې قناعت وکړ او ژوند یې داسې عیار کړ چې ورته کفایت وکړي.
ښاغلی سید الف شاه غضنفر وایي، دوستانو ډېر ټینګار وکړ ویل، ټول ډاکټران شخصي معاینه خانې لري ته یې ولې ونه لرې؟ ما ویل د افغانستان خلک ډېر فقیر دي او زه نه شم کولای چې له دوی څخه فیس واخلم او که تاسو غواړئ چې زه له خپل لږ معاش څخه د معاینه خانې کرایه ورکړم، نو بیا به یې جوړه کړم. هغوی قانع شول او که مې ورته ویلي وای چې د کدر د معاش او خپلو تدریسي او علمي چارو ته د زیات وخت ورکولو له امله معاینه خانه نه جوړوم، نو نه یې راسره منله.
د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتمبر له پېښې وروسته چې نړیوال افغانستان ته راغلل، نو له افغانستان سره د نړیوالو د همکاریو او مرستو له امله کاري فرصتونه ډېر شول او ډېرو کسانو حتی څو ځایه کارونه لرل او لوړ معاشونه یې اخیستل، مګر ښاغلي غضنفر بیا هم نه په لوړو معاشونو او نه هم په یو وخت کې څو ځایه کار کولو پسې وګرځېد.
سره له دې چې د عامې روغتیا وزارت معین فیض الله کاکړ ورته ویلي وو چې د زرقي محلول په برخه کې له عامې روغتیا وزارت سره د سلاکار په توګه د کار او تنخوا تړون لاسلیک کړي، ځکه د وزارت انکشافي پروژې د سلاکار د تنخوا لپاره مناسبه بودجه لرله.
ښاغلي سید الف شاه غضنفر د ښاغلي کاکړ دغه وړاندیز ونه مانه، هغه ورته ویلي وو، زه نړیوال روغتیایي سازمان (WHO) سره کاري تړون لرم او دویم قرارداد نه کوم، ځکه چې پیسې یې راته حرامېږي، مګر له معاش



Scanned by CamScanner

او قرارداد پرته چې هره مشوره وي زه مو په خدمت کې يم.


ښاغلي فيض الله کاکړ ورته ويلي وو، د دغه مشاوريت لپاره موږ په بودجه کې پيسې لرو د کوم بل کار يا برخې پيسې نه درکوو. هغه ورته ويلي وو، ماته نړيوال روغتيايي سازمان د هغه قرارداد له مخې چې ورسره لرم يې د مياشتې ۱۲۰۰ ډالر راکوي او هغه زما لپاره کافي دي، زه له قرارداد او معاش پرته وړيا مشورې درکوم. هغه تنخوا چې ماته يې راکوئ، ببرته په همدې پروژه کې په نورو کارونو ولګوئ.



Scanned by CamScanner

# وطن پالنه

ښاغلي سيد الف شاه غضنفر له خپل هېواد او خلکو سره ځانګړې او رښتينې مينه لرله نوموړي هېواد، خلکو او ټولنې سره خپله مينه د طبابت په برخه کې په خپلو علمي او څېړنيزو کارونو او ګټورو خدمتونو وپالله



پوهاند غضنفر تر پايه د ولس او خلکو په خدمت کې نه د ستړيا احساس وکړ او نه يې هم د ډېرو امکاناتو باوجود په کوم بهرني هېواد کې د پناه اخيستو او ژوند کولو شوق وکړ، حتی په سختو او جنګي



Scanned by CamScanner

شرايطو کې يې هم خپل هېواد او خلک بېوازې پرېښودل او نه يې هم له خپلو علمي او څېړنيزو خدمتونو څخه لاس واخيست
امريکا کې د تحصيل او څېړنو پرمهال امريکايي څېړونکو او پروفيسورانو په امريکا کې پاتې کېدو ته وهڅاوه، خو ښاغلي غضنفر تر پايه د هغوی وړانديز ونه مانه
استاد غضنفر وايي، ماته يې ډېر وويل، همدلته پاتې شه او له موږ سره کار وکړه، ما هېواد ته د ستنېدو او خدمت لپاره خپل پاسپورټ ورته پلمه کړ، ما ويل زما پاسپورټ موقت او دوه کلن دی. د پاسپورټ نمبر يې رانه واخيست او د امريکا مقاماتو سره يې خبرې وکړې. بله ورځ چې راغی ويل، خبرې مې وکړې، د پاسپورټ ستونزه دې حل کېږي دا درته بدلوو.
زه چې په امريکا کې پاتې کېدو ته لېوااله نه وم، نو هغوی ته مې وويل، د پاسپورټ د بدلولو لپاره بايد زموږ سفارت سره وغږېږئ. په سفارت کې توريالی اعتمادي کلتوري رئيس وو، هغه ته مې ليک وليکه چې زما د پاسپورټ د بدلولو لپاره تاسو ته يو درخواست درځي لطفاً مه يې منئ، ځکه زه غواړم چې بېرته خپل وطن ته لاړ شم او هلته د طبابت په برخه کې خپل علمي او څېړنيز کارونه شروع کړم.
ممکن ځينې فکر وکړي چې هغه مهال خو په افغانستان کې امن او ثبات وو، د خلکو روزګار ښه وو او ژوند په خوښۍ تېرېده، ځکه نو په بهر کې اوسېدو او ژوند کولو ته خلکو چندان ارزښت نه ورکاوه، مګر د جګړې په کلونو کې يا له هغه را وروسته ډېر افغانان د هېواد پرېښودو ته اړ



Scanned by CamScanner

شول، خو دويم ځل د جګړو په کلونو کې چې خلک په ډېرو مرګونو او له خطره ډکو لارو اروپا او امريکا ته د تلو په هڅه کې وو ، ښاغلي سيد الف شاه غضنفر ته بيا په امريکا کې د اوسېدو چانس برابر شو او بيا يې هم د امريکا پرځای خپل وطن د ژوند او کار لپاره غوره وباله.

ډاکتر غضنفر وايي، په پېښور کې مې اولادونو د امريکا د لاټري فورم راوړ، ويل راځئ چې ډک يې کړو. د دوی د خوښۍ لپاره مې هغه فورم ډک کړ. درې کاله وروسته يوه ورځ چې له جلال اباد پوهنتون څخه پېښور ته ورسېدم، نو اولادونو مې ويل امريکا سفارت د دوشنبې په ورځ ټليفون کړی وو ، چې يو ځل سفارت ته راشه. هغوی ورته ويلي وو چې اوس کور کې نشته، پنجشنبې ته راځي. په هغه ورځ يې بيا زنګ وواهه، خبرې مې ورسره وکړې په ټليفون يې راته ويل، راشه ګرين کارټ دې واخله.

ما ويل ما کله درخواست کړی وو؟

ويل، هيڅ دې نه وو کړی؟

ما ويل نا.

ويل کوم فورم دې نه وو ډک کړی؟

ما ويل يو لاټري فورم وو.

ويل دا همغه دی.

ما ويل، ولا زه علاقه نه لرم

ويل ته يقيني يې؟


ما ويل هو. مخه ښه مې واخيسته او ټليفون مې کېښود ،ځکه ما غربي او له وطنه بهر ژوند ليدلی وو. د ژوند او کار هغه ابرو او عزت چې په خپل وطن کې وي په هيڅ بل ملک کې نه وي. بايد ټول وطنوال پوه شي چې خپل وطن هم مور، ته ابرو دی او هم عزت. هر شی دی.



Scanned by CamScanner

# د ایډز د تشخیص لابراتوار

پوهاند سید الف شاه غضنفر په افغانستان کې د ایډز د تشخیص لابراتوار د جوړولو ویاړ لري. هغه وایي، د روغتیا تدریسي موادو کنفرانس کې د ګڼ‌ون لپاره افریقا ته تللی وم. پروفیسور ډالینګ د ایډز د مخنیوي په اړه یو فلم راوښود او توصیه یې وکړه کله چې بېرته هېواد ته لاړې کوښښ وکړه چې د ایډز مخنیوي کې کار او هلې ځلې وکړې.





Scanned by CamScanner

زه چې راغلم د عامې روغتیا وزارت له مسوولینو مې پوښتنه وکړه چې د ایډز د لابراتوار وسایل را رسیدلي دي که نا؟ هغوی ویل وسایل رسېدلي دي، خو د ټکنالوجیست راتګ ته منتظر یوو چې انسټال او فعاله یې کړي دغه تخنیکي کس له جرمني څخه راتلو.

د عامې روغتیا نړیوال سازمان (WHO) ته مې مراجعه وکړه او له هغوی مې وپوښتل چې دغه جرمنی تکنالوجیست څه وخت راځي؟ هغوی ویل، هغه نفر دا کار نشي کولی، ځکه هغه په فیملي پلانینګ کې کار کړی د لابراتوار برخه کې تخصص او تجربه نه لري. بیا مې نو د عامې روغتیا نړیوال سازمان امر ته وویل دا کار زه په خپله کوم.

د هغوی له موافقې وروسته معصومه جانې چې یوه تکنالوجیسته وه، راسره مرسته وکړه او د وینې بانک ټول ماشینونه مو نصب کړل مراجعین به خپله یا هغه وینه چې خپل ناروغ ته یې ورکوله معاینه کوله د هغوی وینه مې اخیستله او ایډز مې په کې مطالعه کاوه.

له ۱۳۸۷ لمریز څخه تر ۱۳۹۰ لمریز کال پورې مې درې کالو کې تقریباً د ۱۲ زره کسانو وینه معاینه کړه او هیڅ د ایډز نښه نه وه په کې. په یوه اونۍ کې مې د وینې بانک او د وینې د معاینې لپاره سل ټکنالوجیستان وروزل هم مې نظري درس ورکاوه او هم یې عملي کار کاوه.



Scanned by CamScanner

# د سیروم جوړولو فابریکه

ډاکټر سید الف شاه غضنفر په افغانستان کې د زرقي محلول یا سیروم جوړولو مخکښ دی. هغه وایي، په ۱۹۷۴ میلادي کال نیویارک ته یو سمپوزیم کې د ګډون په موخه تللی وم. هلته مې د هارورډ پوهنتون له یو استاد څخه د محلولاتو د جوړولو په اړه معلومات واخیستل، ځکه دا په افغانستان کې لویه ستونزه وه.





Scanned by CamScanner

د هارورډ پوهنتون استاد معلومات او ریفرنس راکړل او راته وې ویل، د محلول جوړولو لپاره اساسي خبره داده چې د ټیوب او بوتل داخل پاک وسائل او مقطرې اوبه مه پرېږدئ چې څنډنی شي. تازه یې محلول او تعقیم کړئ په ۱۳۴۶ لمریز کال کې مې په علي اباد روغتون کې د دې زرقي محلولو د جوړولو اقدام وکړ.

بل ځل عامې روغتیا وزارت د پاسټور انسټیټیوټ ایجاد ته واستولم پیسې المانیانو ورکولې، خو هغوی موافقه ونه کړه، بیا مې په قرغه کې په ۵۸ جریبه ځمکه باندې د واکسین او سیروم په نوم یو انسټیټیوټ جوړ کړ چې اوس یې هم ودانۍ شته او همغه زرقي محلول چې ما علي اباد کې انکشاف ورکړی وو قرغې ته انتقال شو او هلته ځینې نور ماشینونه هم راوړل شول.

په افغانستان کې د جنګونو له کلونو دمخه یې ډېر ښه کارکاوه، ځکه چې ټولو صحي مراکزو ته مې وړیا دا زرقي محلول ورکولو، خو د جنګونو پرمهال د هېواد د نورو تاسیساتو په څېر دغه فابریکه هم ویجاړه شوه. په دې وروستیو کې عامې روغتیا وزارت ۷ میلیون ډالر بودجه ورته ځانګړې کړې، په دې هیله چې ژر ورغاول شي.

وزیر صاحب دا مسوولیت ماته سپارلی چې د ماشینونو مشخصات پیدا کړم چې د کال له ۱۵ څخه تر ۱۸ میلیون لیتر سیروم او پنځوس میلیون امپول دلته تولید شي. ماشینونه انتخاب او اعلان شوي دي او نږدې کې به یې قراردادونه وشي او ممکن په دوه کالو کې کار شروع او ټول افغانستان ته سیروم ورکړي.




Scanned by CamScanner

# بېلابېلې دندې

## استادي:

پوهاند ډاکتر سیدالف شاه غضنفر په ۱۳۴۱المریز کال له امریکا څخه افغانستان ته له راستنېدو وروسته بیوشیمي ډیپارټمنټ کې د پوهندوی علمي رتبه د کابل پوهنتون طب پوهنځي علمي کدر کې شامل شو او په طب او فارمسي پوهنځیو کې یې بیوفزیک، بیوشیمي، عضوي او تحلیلي کیمیا تدریسوله. د پوهنوال او پوهاند رتبې ته د ترفیع شرایط یې پوره کړل.



ډاکتر سیدالف شاه غضنفر



Scanned by CamScanner

نو موږې به د تدریس د نویو مېتودونو، د درسي مفاهیمو او موضوعاتو د اسانه کولو، د تدریس د موثرو لارو، عملي بېلګو او شخصي کیسو او تجربو پر مټ خپل تدریس محصلینو ته دومره په زړه پورې کړ چې د اسانه زده کولو تر څنګ به یې ورڅخه لذت اخیست. له دې امله به د ده په درسي ساعت کې ټل محصلین حاضر وو.

هغه وايي، د تدریس پر مهال مې ټل ځان د شاګردانو سویې ته راټیټاوه او له همدې زاویې مې خپل تدریس عیاراوه. د محصلینو په حافظه مې اتکا نه کوله کوښښ مې کاوه چې استدلال ور زده کړم. ازموینه کې مې هم له دوی څخه استدلال غوښتی دی، ځکه څومره چې عمر زیاتېږي حافظه کمزورې کېږي او استدلال قوي کېږي.

ښاغلي غضنفر به خپلو شاګردانو ته ویل، هر وخت مو چې په درس کې څه ستونزه او پوښتنه لرله، دې پسې مه ګرځئ چې وخت دی، ناوخته ده، ښار دی، بازار دی، پوهنځی دی، ټولګی دی مقصد هر چېرې چې وئ، نو ما ده خپله پوښتنه وکړئ.

ښاغلي سید الف شاه غضنفر د لسیزو تدریس تر څنګ ۲۵ علمي او څېړنیز اثار هم ولیکل چې د هېواد د طب پوهنتونونو او پوهنځیو کې اکثر د ده لیکلي اثار تدریسېږي.

پوهاند غضنفر چې د پخواني امریکایي عالم د طبي فزیولوژي دیارلسم کتاب Medical Physiology V. Mount ولوست، نو د هغه کتاب د حجرې فزیولوژي د ریاضي اساساتو مبحث چې له ۳۰ مخونو زیات وو د هغه تېروتنې یې سمې کړې او بیا یې اصلاح شوې بڼه د پست له لارې



Scanned by CamScanner


مولف ته واستوله
ښاغلی غضنفر وايي، د تصحیح له ور استولو وروسته لیکوال لیک راته
راولیږه او د منني تر څنګ یې ژمنه کړې وه چې په راتلونکي چاپ کې به
دا اصلاح په پام کې ونیسي. بیا مې یو وخت چې دویم چاپ کتاب
وکوت، نو زما سمونې یې تطبیق کړې وې.

## د طب انسټیټیوټ ریاست

د طب پوهنتون چې هغه مهال یې طب انسټیټیوټ باله د دې ریاست په
ښاغلي ډاکټر سید الف شاه غضنفر باندې تحمیل شو او د دغه تحمیل
کیسه داسې کوي: هغه مهال زه د عامې روغتیا وزارت د بهرنیو اړیکو
رئیس وم. د طب انسټیټیوټ ریاست ته اته تنو ځانونه نومولي وو.
اعجازي صاحب[پوهاند مهراحمدز اعجازي] خواهش رانه وکړ چې په
هغه برخه کې همکاري وکړم.
پوهنتون، علومو اکاډمۍ، پولیتخنیک او نورو ځایونو کې د نوماندانو
تر منځ دا رقابت ما لیدلی وو، کله به چې د هغوی له منځ څخه یو تن رئیس
شو، نو نور ټول یې برخلاف کېدل او کار یې سم نه کاوه، نو چې ما ولیدل
دلته اته تنه کاندیدان وو، نو اعجازي صاحب ته مې وویل، دا ښه نه ده.
هغه وویل نظر دې څه شی دی؟
ما ویل نظر مې دادی چې یو سابقه دار استاد به قانع کړو چې دغه ریاست
ومني او بیا به نور استادان را وغواړو او د هغوی موافقه به واخلو چې دا
د رئیس په توګه منئ که نا؟ که یې موافقه وکړه بیا دې هغه ځان کاندید
کړي او رایه به ورکړو، زه لاړم ټول استادان مې ولیدل هیچا هم قناعت نه



Scanned by CamScanner



پوهاند غضنفر

د درسي موادو يو څېړنيز کنفرانس کې د ګډون په موخه دمشق ته لاړم، زه لا هملته وم چې دلته داخلي جنګونه شروع شول، هېواد ته الوتنې نه وې، بيا نو په ۲۹ د نومبر پېښور ته لاړم، دلته جنګونو شدت وموند انستيټيوټ او زما کور وسوځېدل زه په پېښور کې بند پاتې شوم. اريانا طياره رانغله، د پاسپورټ او ويزې وخت هم ختم شو، دوه درې مياشتې وروسته د عامې روغتيا نړيوال سازمان چې له ما څخه خبر شوی وو، نو اسلام اباد ته يې ور وغوښتم او راته ويل يې سر له نن څخه زموږ مامور



Scanned by CamScanner

کاوه. بالاخره مې مولانا رحیمي قانع کړ چې ریاست ومني.
استادان مې چې راټول کړل ډاکټر صاحب افضل انور راته ویل ته دا موضوع استادانو ته تشریح کړه. ما د موضوع په اړه هغوی ته معلومات ورکړل. بالاخره څو استادانو ته مې وویل تاسو د انستیتیوټ ریاست منئ؟ هغوی ونه منله
بیا مخکې له دې چې ووایم مولانا رحیمي زه پیشنهادوم، نو ډاکټر صاحب موسی وردګ وویل بهترین رئیس په خپله ډاکټر غضنفر دی، د دې په خاطر چې ده لا پخوا چې نه یې صلاحیت درلود او نه هم مسوولیت، نو کتابتون او مطبعه یې جوړ کړل. له دې سره یو ځل ټولو چک چکې کړې. حیران شوم اخر کې اعجازي صاحب وویل وې منه بیا د انستیتیوټ رئیس شوم. پروګرام مې تجدید نظر کړ.



Scanned by CamScanner

يې بيا مې کار پيل کړ.

د عامې روغتيا نړيوال سازمان سره مې د ښوونې او روزنې د متخصص په توګه کار کاوه. زما د دندو لايحه دا وه چې بايد درسي مواد وليکم او د صحي علومو کاريکولم باندې بيا کتنه وکړم او نوي مواد ورته وليکم يوه موده اسلام اباد کې وم تقريباً نيم کال وروسته بيا دفتر جلال اباد ته انتقال شو او زه جلال اباد ته راغلم او هلته شنبې راتلم د اونۍ تر اخره او بيا د اونۍ پای کې پېښور ته خپل کورته تلم. جلال اباد کې مې د پوهنتون روغتون کې د وينې بانک جوړ کړ. کتابونه مې ليکل. لابراتواري پروسيجرونه مې هلته شروع کړل او کابل کې مې چاپ کړل. فزيکې علومو کتاب مې جلال اباد کې وليکه.

## د عامې روغتيا موسسې رياست

ډاکټر سيد الف شاه غضنفر له ۱۳۵۰ څخه تر ۱۳۵۲ کال پورې د عامې روغتيا موسسې رئيس وو او په دوه کاله کې يې په روغتونونو او روغتيايي مرکزونو کې ۴۶ لابراتوارونه جوړ کړل

پوهاند غضنفر به د درملو کيفيت په خپله کنټرولاوه او کوم درمل به چې په ټاکلو معيارونو برابر نه وو، نو هغه به يې ببرته مستردول. يوه ورځ يو شرکت چې بې کيفيته درمل وارد کړي وو، نو د هغو درملو د واپس کولو جدي هدايت يې ورکړی وو. د شرکت مسوول ډېر عذرونه او زارۍ کړې وې. واسطې او وسيلې يې هم برابرې کړې وې، خو پوهاند صاحب غضنفر دا هر څه رد کړي وو.

کوم چا د ياد شرکت مسوول ته ويلي وو چې پوهاند غضنفر د سيدانو مذهبي کورنۍ پورې تړاو لري او هغه هيڅ ډول واسطه، وسيله او رشوت



Scanned by CamScanner

نه مني، نو يو څو د وربښمو (ابرېښمي) جاى نمازونه واخله او د ډالۍ په توګه يې ورکړه. بله ورځ يې جاى نمازونه وروړي وو. پوهاند صاحب سره له ليدلو او د چاى له څښلو وروسته يې ورته ويلي وو چې موږ تاسو ته يوه ناچيزه ډالۍ راوړې په دې هيله چې وې منئ. بيا يې شپږ ابرېښمي جاى نمازونه ورکړي وو.

پوهاند سيد الف شاه غضنفر د جاى نمازونو په ليدلو سره پوه شوى وو چې دا حتماً د همغه شركت ډالۍ ده چې ده يې دوا مسترده كړې ده، بيا يې نو ورته ويلي وو دا چې زه سهار وختي له خوبه وينښ شم، په سرو او بو اودس وكړم او د خداى د رضا لپاره لمونځ وكړم او هغه هم د رشوت په جاى نماز، نو ته خپله فكر وكړه چې دا مناسبه ده؟

بيا يې لږ په تونده لهجه ورته ويلي نو شپږ جاى نمازونو ته څه اړتيا وه، ويل جاى نمازونه دې در سره واخله او چې بيا دې ونه ګورم او نه هم زما د تېربستلو هڅه وكړې.

## د عامې روغتيا وزارت د پلان رياست

پوهاند سيدالف شاه غضنفر له ۱۳۵۲ څخه تر ۱۳۵۵ كال پورې د عامې روغتيا وزارت د پلان رئيس په توګه مقرر شو. پلازمېنه كابل كې جمهوريت روغتون، ملالۍ زېږنتون، د عامې روغتيا وزارت مركزي ستاک، د واكسين او سيروم انستيټيوټ، د ننګرهار، كندهار او هرات ولايتونو روغتونونه او صحي مركزونه او د افغانستان د صحي علومو انستيټيوټ چې اوس د غضنفر د صحي علومو انستيټيوټ په نوم يادېږي د ده د رياست پرمهال جوړ شول



Scanned by CamScanner

# د بلخي ابن سينا درملځي موسسې رياست

ډاکټر سيد الف شاه غضنفر له ۱۳۵۵ لمريز کال څخه تر ۱۳۶۰ لمريز کال پورې د بلخي ابن سينا درملځي موسسې چې اوس يې د فارمسي چارو رياست بولي رئيس وو.

د نوموړي د رياست پرمهال د هر روغتون مخې ته دولتي درملتونونه جوړ شول. همدارنګه يې د جنريک درملو پلان چې پخوا طرحه شوی وو د اجرا وړ وګرځاوه. ښاغلی غضنفر وايي، دوا مې جنريک کړه او د دوا قېمت مې ارزانه کړ او باکيفيته درمل په مناسب جنريک همغه کيفيت تقريباً څلور برابره ان تر دې هم ډېر ارزانه کړل.

په درملتونونو کې پيتنت او جنريک دواړه ډوله دوا وه. دوا ساز ته مې ويلي وو کله چې نسخه راځي ورته ووايئ که پيتنت اخلئ په دغه بيه او که جنريک اخلئ دغه نرخ ده. مثلا سيلوريخ يو تابليت يې ۱۳ نيمې افغانۍ وو. ما له ايټاليا اليپينرول وارد کړل چې ۹۵ پول يې بيه وه يانې يوه افغانۍ هم نه کېده. نسخه به چې راتله ورته ويل به يې که سيلوريخ اخلئ په دغومره ده او که اليپينرول اخلئ، نو په دغومره ده. دوا به يې چې استعمال کړه، نو بل ځل به يې خپله ويل همغه ارزانه دوا راکړئ.


افغانستان لومړنی هېواد وو په نړۍ کې د جنريک درملو په برخه کې بريالی شو. درملتونونو کې مو هم پيټېنټ دوا کېښوده او هم جنريک رقابت مو وکړ او بريالي شو. پرنسيپ يې اوس هم مروج دی. بايد جنريک په لوی نوم وليکل شي. او پيټېنټ کوچنی وليکي.



Scanned by CamScanner

# د پوهاند غضنفر د خدمتونو قدرداني

د لوګر په کلنګار کې په یوه بې وزله کلیواله کورنۍ کې زېږېدلي سید الف شاه د خپلو زحمتونو او کوښښونو پر مټ په خپل وخت کې ډېرو بریالیتوبونو ته ځان ورساوه او د خپلې پوهې، تجربو او وړتیا له برکته یې هېواد او ټولنې ته د طبابت په برخه کې د قدر وړ خدمتونه وکړل.






Scanned by CamScanner

ښاغلی غضنفر یو له هغو بختورو انسانانو څخه وو چې په همغه ټولنه کې چې په اړه یې دا مشهوره ده چې په ژوندیو کې ښه او په مړو کې بد خلک نه لري یانې خپل خدمتګاران په ژوندونې نه پالي، مګر دی په کې په ژوندونې تقدیر او ونمانځل شو، درناوی یې وشو. هلوځلو او خدمتونو یې په ژوندونې رنګ راوړ.

د عامې روغتیا وزارت په وړاندیز او د جمهوري ریاست په منظورۍ د استاد غضنفر د قدر وړ خدمتونو د قدردانۍ په موخه د ۱۳۸۸ لمریز کال د سرطان په ۱۸ د عامې روغتیا وزیر محمد امین فاطمي او د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر محمد اعظم دادفر نوموړي ته د سید جمال الدین افغان عالي دولتي نښان ورکړ.






Scanned by CamScanner

همدارنګه عامې روغتیا وزارت د ۱۳۹۱ لمریز کال د قوس په ۲۷ په افغانستان کې د طبابت اخلاقو ارتقا کنفرانس کې د ښاغلي ډاکټر سید الف شاه د خدمتونو د تقدیر په خاطر نومورې ته د "استاد غضنفر" په نوم جایزه ورکړه او په پام کې ده چې دغه جایزه هر کال د کال تر ټولو غوره ډاکټر ته ورکړي.



همدا ډول د پوهاند سید الف شاه غضنفر د خدمتونو او علمي کارونو د قدردانۍ په موخه د کابل طبي پوهنتون کتابتون هم د استاد غضنفر په نوم ونوموول شو.

پلازمېنه کابل کې د افغانستان د صحي علومو مرکز چې په خپله پوهاند سید الف شاه غضنفر یې د عامې روغتیا موسسې د ریاست پرمهال د بسټ ډبره ایښې وه، په دې وروستیو کې د استاد غضنفر د روغتایي



Scanned by CamScanner

علومو مرکز په نوم ونومول شو.
د هېواد دغه لوی خدمتګار او دانشمند د ۱۳۹۲ لمريز کال د حمل په لومړۍ نېټه د جمعې په شپه په ۸۲ کلنۍ کې وفات او د جمعې په ورځ په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو.



Scanned by CamScanner